# الأربعون الولدانية

د بچو د تربیت په خاطر څلویښت نبوي حدیثونو ګلدسته

محمد بن سليمان المهنا



# الأربعون الولدانية

د بچو د تربیت په خاطر څلویښت نبوي حدیثونو ګلدسته

ح جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالربوة ، 1445هـ

المهنا ، محمد بن سليمان
الأربعون الولدانية: أربعون حديثاً صحيحاً مع شرحها باللغة البشتو. / محمد بن سليمان المهنا ؛ مركز أصول - ط1. .- الرياض ، 1445هـ
100 ص ؛ ..سم

رقم الإيداع: 1445/19262
ردمك: 978-603-8438-06-0

This book is the property of the Osoul Center. Permission is granted for it to be stored, transmitted, and published in any print, electronic, or other format - as long as the Osoul Center is clearly mentioned on all editions, no changes are made without the express permission of the Osoul Center, and a high level of quality is maintained.

+966 11 445 4900
+966 11 497 0126
P.O.BOX 29465 Riyadh 11457
osoul@rabwah.sa
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب سریزه

الحمدُ لله ربِّ العالمین، والصلاة والسلام علی نبیِّنا محمّدٍ، وعلی آله وصحبه أجمعین، أمّا بعد:

د څلویښت نبوي حدیثونو باندي مشتمل د اهل علمو ډیر کتابونه شتون لري چې تر ټولو ډیر مشهور یې د امام نووي رحمه الله کتاب «الأربعون النوویّة»دی په دې کتاب کې امام نووی رحمه الله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څلویښت حدیثونه ددې لپاره راجمع کړي دي چې د علم زده کونکي یې لفظونه په یادو یاد او په معنا یې ځان ښه پوهه کړي، د څلویښت نبوي حدیثونو نورې بیلګې د امام هروي کتاب «الأربعین في دلائل التوحید» او دامام ابن فضل کتاب «الأربعین الإلهیّة» او د ابن عساکر کتاب «الأربعین البُلْدانیّة» و غیره خورا ډیر دي.

الله پاک ماته هم د نبوي څلویښتو حدیثونو د راجمع کولو توفیق او عزت را په برخه کړ، د بیلابیلو شرعي اړینو موضوعاتو په اړوند مې څلویښت کوتا نبوي حدیثونه راجمع کړي دي تر څو زمونږ بچي د هغې لفظونه یاد او په معنا یې ښه ځان پوهه کړي، او دا کتاب مې د «الأربعین الوِلْدانیّة» په نوم ونماو ځکه چې دا کتاب د بچو د تربیت په خاطر لیکل شوی دی ((١)). په دې کتاب کې ما ټول هغه صحیح حدیثونه راوړي

(١) - ولدان په عربي ژبه کې د ولد جمع ده بچي ته ویل کیږي هلک وي او که جیني وي او دا کلمه په قرآن کریم کې په څو څو وار راغلې ده.

دي چې په صحت يې دوه لوې امامان د نبوي حديثونو امام بخاري او امام مسلم اتفاق کړی وي او يا يو د دې دواړو په خپل کتاب کې ذکر کړی وي.

بيا ددي کتاب هر نبوي حديث مي شرحه کړي او د هغې معنا په لنډه توګه بيان کړې تر خپل وس او توان مي کوشش کړی چې په شرحه کې د لفظونو او معنا وضاحت په آسان انداز اوکړم.

په خپل پروردګار ډېر باوري يم چې زما دا کتاب به قبول او ګټور اوګرځوي تر څو خلک ورته رامات شي دا کتاب ولولي، په يادو يې ياد کړي او همدې کتاب څخه په شرعي دورو، مساجدو، مدسو او کورنو کې بيلابيلې سيالۍ اوکړي، ای زمونږ پروردګاره ته يې راڅخه قبول کړي بيله شکه ته اوريدونکی او پوهه ذات يې، مونږ ته او زمونږ مور او پلار، ملګرو او ټولو مسلمانانو ته ښښنه اوکړي.

وصلِّ وسلِّمْ وبارِكْ على نبيِّنا محمّد وعلى آله وصحبه أجمعين.

محمّد بن سليمان بن عبد الله المهنا

الرياض

٠٠٩٦٦٥٠٥٤٩٠٥٢٥

تويتر: @almohannam

إيميل: almohanna.m@gmail.com

# په کتاب کې د پیل کولو نه وړاندې شپږ لاړ ښونې:

(١) دا کتاب د کوچنیانو او لویانو ټولو لپاره اړین او مناسب دی ځکه چې په دې کتاب کې یواځې یا خو د الله پاک د کتاب قرآن کریم ایت دی یا نبوي حدیث دی او یا د اهل علمو د کتابونو څخه راخستل شوي ګټوري لاړ ښونې ذکر شوې دي.

(٢) په دې کتاب کې ما لنډ او کوتا حدیثونه راجمع کړي دي دا په دې خاطر چې په یادو یادول یې آسان او ګټه عامه شي.

(٣) دا ټول نبوي حدیثونه مې د وضاحت څخه بعد ددې کتاب په پای کې په مسلسل ډول ذکر کړي دي تر څو په یادو یادول او بیرته لوستل یې آسان شي.

(٤) دا کتاب مې په اصل کې د بچو د تربیت په موخه لیکلی دی او زه سپارښتنه کوم چې په مدرسو، مساجدو، کورونو وغیره کې د

همدې کتاب څخه سيالي مقرر کړی شي تر څو عام او خپور شي.

(٥) زه ټولو تربيت کونکي مور او پلار، ښوونکي وغيره و ته بلنه ورکوم تر څو دا کتاب د خپلو بچو، شاګردانو سره ولولي تر څو د ماشومانو ژبه په نبوي حديثونو باندي وچليږي او ټول هغه ګټور اسلامي اخلاق او آداب زده کړي کوم چې په دې کتاب کې رانغښتلي دي.

(٦) ما د خپل وس او توان سره سم د حديثونو شرحه کړي او ځينې معناګاني او ګټې مي بيان کړي دي مګر ډير څه داسي شتون لري چې زما څخه پاتي شوي دي نو مور، او پلار، ښونکي وغيره بايد زيار اوباسي تر څو هغه ګټوري خبري پيدا کړي.

# ۱

عبـد الله بـن عمـر بـن خطـاب رضي الله عنهمـا څخـه روايـت دی هغـه وايـې: نـبي كريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـې دي: **اسـلام پـر پنځو (بنسـټونو) جوړ شـوی دی: پـدې ګـواهي وركـول چـې پـر حقـه معبـود نشـته مګـر يـو الله دی او محمـد -صـلی الله عليـه وسـلم - د الله رسـول دی، او د لمانځـه ادا كـول، د زكات وركـول، د الله د كـور حـج كـول او د رمضـان د مياشـتې روژه نيـول.**

## تشريح:

پـه دې حديـث كـې نـبي كريـم صـلی الله عليـه ووسـلم مونـږ د اسـلام پـه مبـارک ديـن كـې تـر ټولـو ډيـر اړيـن پنځـه كارونو پـه تـړاو سپارښـتنه كـوي او دې كارونـو تـه د اسـلام اركان هـم وايـې:

**لـو مـړی ركـن د اسـلام :** شـهادة أن لا إلٰه إلا الله (وأن محمـدًا رسـول الله)- ده : يعنـې ګـواهي وركـول چـې پـر حقـه معبـود نشـته پرتـه له الله - تعـالی څخـه او محمـد صـلی الله عليـه وسـلم د الله پـاک پيغمبر دی او دا د اسـلام تـر ټولـو لـوې ركـن دی، پـس هغـه څـوک چـې پـه ژبـه دا كلمـه د توحيـد ووايـې او پـه زړه وربانـدې بـاور اوكـړي نـو بيلـه شـكه مسـلمان او د اسـلام پـه مبـارک ديـن كـې داخـل شـو.


**دوهــم رکــن:** د لمانځــه ادا کــول دي: چــې دا له دوو رکنونــو وروســته تــر ټولــو مهــم رکــن دی پــه همــدې خاطــر يــې ورسره نيــژدې يــاد شــوی دی.

**دريــم:** زکات ورکــول دي: زکات ورکــول د مــال يــو خــاص برخــه کومــه چــې شريعــت ټاکلــې ده پــه هــر مــالداره مســلمان بانــدې واجــب ده چــې د خپــل مــال زکات يې وزله او فقيرانــو و غــيره تــه ورکــړي.

**ځلــورم رکــن:** د رمضــان د مياشــتې روژې نيــول دي پــه هــر عاقــل بالــغ مســلمان بانــدې چــې شرعي عــذر ونلــري د رمضــان د مياشــتې ټولــې روژه نيــول واجــب دي.

**پنځــم رکــن:** د الله پــاک د کــور حــج فريضــه ادا کــول دي دا فريضــه د تــوان او طاقــت سره ســم پــه ټــول عمــر کــې يــو ځــل ادا کــول فــرض دي.

دا پنځــه هغــه ارکان دي چــې د اســلام مبــارک ديــن بنيــاد وربانــدې ولاړ دی چــې بشــپړ تفصيــل او وضاحــت يــې د عقيــدې او فقهــې پــه کتابونــو کــې شــتون لــري.



# ۲

د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د لوې ګناهونو په تړاو پوښتنه وشوه هغه وویل: لوی ګناهونه: **له الله سره شرک کول، د مور او پلار نافرماني کول، د نفس وژل، او په دروغو باندې قسم خوړل دی.**

## تشریح:

په دې مبارک حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د څلورو لوی ګناهونو په هکله مونږ ته خبرداری راکوي، هغه څلور لوې ګناهونه کوم چې په دې حدیث کې د هغې یاد ونه شوې ده دادي:

**لمړی لویه ګناه:** د الله پاک سره شریک جوړه ول دا هغه لویه ګناه ده چې په کولو سره یې یو مسلمان د اسلام له دائرې څخه خارجیږي او په کفر کې داخلیږي او همدغه شان دا هغه لویه ګناه ده چې په کولو سره یې انسان د دوزخ په اوور کې د همیشه لپاره د اوسیدلو مستحق ګرځي، د الله پاک وینا ده:

{لَقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ ٱلْمَسِيحُ يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّـٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾ سورت مائدة}.

**ژباړه:** خامخا یقینًا کافر شول هغه خلق چې ویې ویل: بیشکه الله همدا د مریمې زوی مسیح دی، حال دا چې مسیح، بني اسرائیلو ته وویل: تاسو د الله عبادت کوئ، چې زما رب دی او ستاسو رب دی،

بېشکه خبره دا ده چې څوك له الله سره شريك نيسي، نو يقينًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هيڅوك مدد کوونکي نشته

**دوهمه لويه:** ګناه د مور او پلار نا فرمانې کول هغوې پرېښودل هغوې ته په ژبه يا کړنو سره تکليف ورکول د هغوې له خبرو منلو څخه سر غړونه کول يا د هغوې سره بيلابيل بد چلند کول.

**دريمه لويه ګناه:** نا حقه يو بيګناه انسان په قتل رسول ډېر لوې جرم، ګناه او د الله پاک د غضب او قهر سبب او د دوزخ په اور کې د هميشه اوسيدلو لپاره سبب ګرځي د الله پاک وينا ده:

{وَمَن يَقۡتُلۡ مُؤۡمِنٗا مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَٰلِدٗا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمٗا ﴿٩٣﴾ سورت نساء}.

**ژباړه:** او هغه څوك چې مومن په قصد (او ارادې) سره قتل کړي، نو د هغه سزا جهنم دی، چې هميشه به په هغه کې وي او الله پر ده باندې غضب کړی دی او پر ده يې لعنت کړی دی او د ده لپاره يې بېخي لوی عذاب تيار کړی دی

**څلورمه لويه ګناه:** د دروغو ګواهي ورکول، که يو څوك په بل چا باندې د دروغو ګواهي ورکړي نو بله شکه يې ډېره بده وينا او لويه ګنا تر سره کړه.

په هر مسلما نباندې واجب ده چې په هر وخت او حالت کې بايد رښتنې وي ګواهي ورکول هم يو هغه اړين حالت دی چې يو مؤمن مسلمان بايد په هغې کې د بشپړ رښتيا څخه کار واخلي او کله چې ګواهي ورکوي برابره خبره ده چې ګواهي د قاضي په خواکې وي يا د بل چا په خواکې وي بايد چې د حق رښتني وينا اوکړي او د هر ډول دروغو څخه بايد ځان اوساتي تر څو په لويه ګناه کې اخته نشي.

## ۳


د عبـد الله بـن عمـرو رضي الله هنهمـا څخـه روايـت دی هغـه وايـې: نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم ويلـې دي: کامـل او پـوره مسـلمان هغـه دی چـې نـور مسـلمانان يـې د ژبـې او لاس د شر څخـه روغ رمـټ پـاتي وي.

### تشريح:

مسـلمان کلـه قـوي او د مؤمـن پـه څـير کامـل مسـلمان وي او کلـه بيـا کمـزوری او ضعيـف مسـلمان وي نـو هغـه مسـلمان چـې کامـل او قـوي مسـلمان وي او اسـلام يـې د الله پـاک د خوښـۍ سـبب اوګرځـي دا رښـتنی او کامـل مسـلمان دی.

پـه دې مبـارک حديـث کـې مونـږ تـه نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم د رښـتني او کامـل مسـلمان خويونـه او صفتونـه را ښـود لي دي هغـه داچـې کامـل او رښـتنی مسـلمان نـورو مسـلمانانو تـه پـه ژبـه او لاس وغـيره هيـڅ ډول تـکليـف نـه رسـوي: نـه چـا تـه کنځـل کـوي نـه د چـا غيبـت کـوي او نـه دچـا سره پـه ژبـه يـا لاس وغـيره بـد کـوي نـه چاتـه ضرر رسـوي او نـه پـه چـا بانـدي تـيری کـوي.

دا د کامل او رښتني مسلمان صفتونه او خوېونه دي او هغه څوک چې نورو مسلمانانو ته په ژبه لاس وغيره سره تکليف ورکوي ايمان يې کمزوری او اسلام يې نيمګړی دی چې د الله پاک د خوښې سبب نه ګرځي.



# ٤

د ابـو هریـره رضي الله عنـه څخـه روایـت دی هغـه وایـي:
نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم ویلـي دي: **د منافـق انسـان دري نښـي نښـاني دي: د خـبرو کولـو پـه مهـال دروغ وایـي، او وعـده خـلافي کـوي، او پـه امانـت کـې خیانـت کـوي.**

## تشریح:

منافقـان پـه ټولنـه کـې ډیـر شریـان خلـک دي پـه اخـرت کـې د دوي د حالـت پـه هکلـه الله پـاک داسـې ویلـي دي:

{إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴿١٤٥﴾ سورت نساء }.

**ژباړه:** بېشـکه منافقـان د اور تـر ټولـو لاندینۍ طبقـه کـې دي او تـه بـه کلـه هـم د هغـوی لپـاره څـوک مـدد کوونکـی ونـه مومـې.


پـه دې مبـارک حدیـث کـې مونـږ تـه نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم د منافقانـو دري نښـې نښـاني راښـودلې دي، او دا ددې پـه خاطـر چـې مونـږ بایـد د منافقانـو د خویونـو او صفتونـو څخـه خپـل ځانونـه وژغـورو، هغـه دري نښـې نښـاني دادي:

**د منافق لمړۍ نښه:** دروغ ویل.

**د منافق دوهمه نښه:** وعده خلافي کول.

**د منافق دریمه نښه:** په امانت کې خیانت کول.

دا درې واړه د منافق خویونه او صفتونه دي، او هر چې رښتنی مؤمن او مسلمان وي نو هغه هر وخت د خبرو کولو په مهال رښتیا وایې او د دروغو ویلو څخه ډه ډه کوي او چې کله د یو چا سره وعده اوکړي نو هغه پوره کوي او وعده خلافي نه کوي، او چې کله یو څوک د هغه سره امانت کیږدي نو بیرته هغه امانت خپل خاوند ته رسوي او د خیانت څخه ډه ډه کوي، همدغه شان که یو څوک ورته یوه خبره د راز په توګه ووایې نو هیڅکله بیا دا مسلمان د هغه راز بل چاته نه وایې بلکه د خپل ځان سره یې پټ ساتي ځکه چې رازونه ښکاره کول هم یو ډول خیانت دی د الله پاک نه د عافیت غوښتونکي یو.



## ۵

د جابـر بـن عبـد الله رضي الله عنهمـا څخـه روايـت دی هغـه وايـې: نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـې دي: **د يـو مسـلمان او شرک، کفـر تـر مينـځ توپـير لمونـځ کـول دي.**

### تشريح:

لمونـځ کـول د اسـلام پـه ارکانـو کـې د توحيـد د کلمـې نـه بعـد تـر ټولـو لـوې رکـن او فريضـه ده همـدا وجـه ده چـې د قـرآن کريـم پـه ډيـرو اياتونـو کـې او د نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم پـه ډيـرو نبـوي حديثونـو کـې د لمانځـه پـه ادا کولـو حکـم او د پريښـودلو نـه يـې منعـه او وعيـد راغلی دی.

دا مبـارک حديـث مونـږ تـه پـه لمانځـه کـې د سسـتيا او کوتـاهي کولـو نـه ويـره راکـوي ځکـه چـې نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ښـکاره او واضـح بيـان کـړی دی چـې د يـو مسـلمان او کفـر، شرک تـر مينـځ توپـير لمونـځ کولـو دي کـه يـو څـوک لمونـځ پريـږدي نـو کفـر او شرک تـه رسـيږي. ـ پـه الله پـاک سره پنـاه غـواړو۔

دا نبوي حدیث ښکاره او واضحه دلیل دی چې د لمونځ پرېښودل تر ټولو لوي ګناهونو څخه لویه ګناه ده د لمونځ پرېښودل د سود خوری، بدکاری، غلا او د شرابو څښلو څخه ډېره ګناه لري سره له دینه چې دغه ګناهونه هم لوي ګناهونه دي.

هر یو مسلمان نارینه او ښځینه باندي لمونځ ادا کولو ته ډېره پاملرنه اوکړي د لمانځه ادا کول خیرونه او برکتونه راوړي او د الله پاک د خوښی، جنت، او ښښني لپاره سبب دی.[1]



(۱) – هر مسلمان باید د لمانځه وختونه، اوپیژني او هر لمونځ په خپل وخت سره ادا کړي ځکه چې لمونځ پرېښودل په ټولو ګناهونو کې لویه ګناه ده.

# ٦

د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: **قوي او پیاوړی مؤمن الله پاک ته د کمزوري مؤمن څخه غوره دی او خیر په ټولو کې شتون لري.**

## تشریح:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ هڅه وي تر څو مونږ په خپلو ټولو کارونو کې پیاوړي شو ایمان مو باید په الله پاک پیاوړی وي، د هغه په دین باید ثابت قدمي شو او په پیاوړتیا سره باید د هغه پیروي اوکړو، همدغه شان په قوت او پیاوړتیا سره مونږ باید هر هغه څه تر سره کړو کوم څه چې مونږ ته په دنیا او اخرت کې ګټور تمامیږي ځکه خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي چې قوي او پیاوړی مؤمن الله پاک ته د کمزوري مؤمن څخه غوره دی همدا جمله زمونږ د هڅوني لپاره بسنه کوي.

قوي او پیاوړی مؤمن ایمان یې قوي او پیاوړی وي اراده او همت یې قوي او پیاوړی وي[1].

(۱) - شیخ محمد بن صالح عثیمین رحمه الله ددي ایت په تفسیر کې چې (إنّا كلّ شيءٍ خلقناه بقدر) دا خبره کړې ده.

په همدې خاطر بايد هر مؤمن نارينه او ښځينه ټول بايد د خپل توان مطابق کوش او کړي او زيار اوباسي تر څو هغه ټولې لارې چارې په کار واچوي کومې چې ددوي ايمان پياوړی کوي په الله پاک باندې او په لوړ عزم او پياوړي همت سره بايد د هغه نيکو عملونو تر سره کولو کوشش اوکړي کوم چې دوي خپل پروردګار ته نيږدې کوي همدغه شان هر مؤمن بايد خپل ځانونه قوي او پياوړي کړي تر څو په ژوند کې هر ډول ننګونو ته خپله سينه سپر کړي او د حل په مټ ورته د پای ټکی کيږدي همدغه شان هر مؤمن بايد دګټور علمونو او بيلابيلو زده کړو او تجربو په مټ خپل ځانونه بايد پياوړي کړي تر څو په ټولنه کې د امت د درد دواشي.

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په دې خبره کې چې خير په ټولو مؤمنانو کې شتون لري يوه ډيره اړينه اشاره ده هغه داچې هر مؤمن پياوړی وي او که کمزوری وي د خير په لاره روان دي ځکه چې ايمان خپله د هر خير تر لاسه کولو لپاره بسنه کوي مګر پياوړي او قوي مؤمن په کمزوري مؤمن باندې يوه برتري هغه دا لري چې الله پاک ته قوي او پياوړی مؤمن د کمزوري او ضعيف مؤمن نه ډير خوښ او غوره دی.

# ۷

د عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: نبي كريم صلى الله عليه وسلم ويلي دي: **هغه څوک چې د لمانځه لپاره ښه اوبه او پوره او دس اوكړي او بيا د فرض لپاره مسجد ته روان شي تر څو يې په جمې جماعت سره ادا كړي، نو الله پاک ورته ګناهونه اوبښي.**

## تشريح:

په دې مبارک حديث کې مونږ ته نبي كريم صلى الله عليه وسلم د يو لوي نيک عمل په هکله چې اجر او ثواب يې هم ډير لوی دی هغه داچې د ګناهونو د ښني سبب ګرځي، هغه عمل د لمانځه سره تړاو لري ټول درې کارونه دي چې يو مسلمان يې د الله پاک د رضا په خاطر تر سره کوي:

**لمړی کار:** ښه او پوره اودس کول، پوره اودس ديته وايي چې په کې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم پيروي اوكړی شي او اوبه د اوداسه هر غړي ته ورسيږي.

**دوهم کار:** د فرض لمونځ د ادا کلو په خاطر مسجد ته لاړ شي.

**دريم کار:** فرض لمونځ په مسجد کې په جمې جماعت سره ادا كړي.

نو هر یو مؤمن چې دا کارونه د الله پاک د رضا په خاطر تر سره کړي نو الله پاک به ورته ګناهونه اوبښي او هغه څوک چې الله پاک ورته ګناهونه اوبښي نو په دنیا او آخرت کې یې کامیابۍ تر لاسه کړه.



# ۸

د ابـو هريـره رضي الله عنـه څخـه روايـت دی هغـه وايـې:
نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـې دي: **هغـه څـوک چې پـه مـا بانـدي پـه خپلـه اراده دروغ ووايـې نـو خپـل لپـاره يـې د د دوزخ پـه اوور کـې ځـاې تيـار کـړ.**

## تشريح:

د نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم پـه حديثونـو کـې دروغ جـوړه ول پـه لويـو ګناهونـو کـې يـوه لويـه ګنـاه ده، هـر هغـه څـوک چې يـوه خـبره د خپـل ځـان څخـه جـوړه کـړي او بيـا دعـوه اوکـړي چـې دا خـبره د نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم حديـث دی، بيلـه شـکه يـې يـوه لويـه ګنـاه اوکـړه، همدغـه شـان هغـه څـوک هـم لـوې ظلـم او زيـاتی کونکـی دی څـوک چـې د دروغـو خـبر رانقـل کـړي او بيـا د هغـې حقيقـت بيـان نـه کـړي.

پـه ډيـر خفـګان سره مونـږ بايـد ووايـو چـې خـورا ډيـر حديثونـه د دروغـو د خلکـو پـه مينـځ کـې خپـاره شـوي دي همدغـه شـان پـه ډيـر خفـګان سره دا هـم ووايـو چـې ځينـي خلـک پـه ښـه نيـت سره دا حديثونـه نقـل کـوي حـا لانکـه دا يـوه لويـه ګنـاه ده او پـر مونـږ واجـب ده چـې دداسـې ګړنـې څخـه ډه ډه اوکـړو ځـه چـې پـه دروغـو ويلـو کـې تـر ټولـو سـتر او نـاکاره دروغ هغـه دي کـوم چـې پـه نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم بانـدي وويـل شي نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـې دي:

«إِنَّ كَذِبًا عليَّ ليس كَكَذِبٍ على أحدٍ؛ من كذَبَ عليَّ متعمِّدًا فَلْيتبوَّأْ مَقْعَدَهُ من النَّار». رواه البخاري[1].

ژباړه: پر ما دروغ ویل داسې نه دي لکه چې پر تاسې کې په یو چا دروغ ویل: هغه څوک چې پر ما دروغ ووایې نو د خپل ځان لپاره خپله د دوزخ په اور کې ځای تیار کړ. او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي:

«من حدَّثَ عَنِّي حديثًا وهو يرى أنَّهُ كذب، فهو أحدُ الكاذِبينَ». رواه الترمذي[2] وقال: حسن صحيح.

ژباړه: هغه څوک چې زما څخه یوه خبره نقل کوي او په دې پوهه وي چې دا خبره دروغ ده نو دی خپله هم یو دروغژن دی.

د نبوي حدیث په هر یو نقل کونکي باندي دا خبره واجب ده چې د حدیث نقل کولو نه مخکې باید ځان ډاډه کړي چې په رښتیا دا حدیث د نبي کریم صلی الله علیه وسم خبره ده.

او په مونږ د الله پاک لویه پیرزوینه ده چې په دې زمانه کې یې مونږ ته د نبوي حدیثونو د لټون کار ډیر اسان کړی دی.

ځکه چې بیلابیل کتابونه او د انټرنټ په مخ ویب پاڼې شتون لري چې مونږ په اساني سره کولی شو چې د یو نبوي حدیث لټون اوکړو، یو د هغه کتابونه څخه د امام الباني رحمه الله کټور کتابونه دي او همدغه شان د انټرنټ په مخ ویب پاڼو کې یوه ویب پاڼه د(شبكة السُنَّة النبويَّة وعلومها) او (الدُرَر السَّنِيَّة) په نوم شتون لري.

---

(١) أخرجه البخاري في كتاب الجنائز، باب ما يكره من النياحة على الميت، برقم (١٢٩١)؛ ورواه مسلمٌ في مقدمة صحيحه، برقم (٤)؛ من حديث المغيرة بن شعبة رضي الله عنه.

(٢) أخرجه الترمذي في أبواب العلم، باب ما جاء فيمن روى حديثاً وهو يرى أنه كذب، برقم (٢٦٦٢).

# ۹

: د عبــد الله بــن مســعود رضي الله عنــه څخــه روايــت دی
هغــه وايــي: نــبي کريــم صــلى الله عليــه وســلم ويلــې دي: **هغــه ځــوک بــه جنــت تــه لا ړ نــشي چــې پــه زړه کــې يــې د زرې برابــر لــوې او تــکــبر شــتون ولــري.**

## تشريح:

د اســلام مبــارک ديــن د ښــو خويونــو او ښاپــسته اخلاقــو ديــن دی پــه همــدې خاطــر د نرمــۍ او خاکســارۍ ښاپــسته اخلاقــو سپارښــتنه کــوي او د بــدو اخلاقــو لــوې او تــکــبر څخــه منــع کــوي.

پــه دې مبــارک حديــث کــې نــبي کريــم صــلى الله عليــه وســلم خلک د بــدو اخلاقــو لــوې او تــکــبر څخــه ويــره وي لــوې او تــکــبر کونکــي هغــه خلــک دي چــې نــورو خلکــو تــه پــه ســپکه ســترګه ګــوري او د حــق منلــو څخــه سر غړونــه کــوي داســې خلــک بــه جنــت تــه لا ړ نــشي، ـ پــه الله پــاک سره پنــاه او عافيــت غواړو ـ

د نــبي کريــم صــلى الله عليــه وســلم ددې وينــا معنــا: هغــه ځــوک بــه جنــت تــه لا ړ نــشي چــې پــه زړه کــې يــې د زرې برابــر لــوې او تــکــبر شــتون ولــري، معنــا داده چــې لــوې او تــکــبر کــول ډيــره لويــه ګنــاه ده اګــر کــه پــه ډيــر لــږ انــدازه هــم وي شــتون يــې ډيــر خطرنــاک دی.

او بیله شکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د لوېږ، او تکبر معنا په خپلې دې وینا سره واضحه بیان کړې ده:

«الكِبْر بَطَرُ الحقِّ وغَمْطُ الناس» [1]

**ژباړه:** د حق منلو څخه سرغړونه کول او نورخلکو ته سپک کتل لوېږ او تکبر دي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې وینا کې هم د لوېږ او تکبر بدي بیان شوي ده، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وینا داده:

**«من تَعَظَّمَ في نَفْسِه، أوِ اخْتالَ فِي مِشْيَتِه، لَقِيَ اللّهَ وهو عليه غضبانُ».** رواه البخاري في «الأدب المفرد» [2] بسند جيِّد.

**ژباړه:** که یو څوک خپل ځان لوېږ اوګڼي او په نخرو مزل کوي د الله پاک سره به مخامخ شي او هغه به وربانديي په قهر او غوسه وي.

مونږ ته په ډاګه شوه چې لوېږ او تکبر کول لویه ګناه او بد اخلاق دي، پر مونږ واجب ده چې د لوېږ او تکبر څخه ډه ډه اوکړو او هغه علمونه تر سره کړو چې لوېږ او تکبر له مینځه وړي لکه د یو چا نصیحت منل، او د حق څخه سر عړونه نه کول، د بي وزله مسکینانو او فقیرانو سره مینه او محبت کول او د هغوې سره مرسته او کومک کول د هغوې سره نرمي او خاکساري کول په دې کارونو سره زړه پاکیږي او نفس د لوېږ او تکبر څخه لرې ساتي.

---

(١) أخرجه مسلم في كتاب الإيمان، برقم (٩١)، من حديث ابن مسعود رضي الله عنه.

(٢) برقم (٥٤٩)؛ وأخرجه أيضًا أحمد (٢٠٠/٥) برقم (٥٩٩٥)؛ والحاكم (١٢٨/١) وصححه. وانظر: «السلسلة الصحيحة» للألباني (٥٤٣).

## ۱۰

د عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم ويلي دي: **په تاسي کي غوره هغه څوک دی چي قرآن زده کړي او نورو خلکو ته يي ورسوي.**

### تشريح:


دا مبارک حديث د قرآن کرن د زده کړي او ښوني اهميت مقام او مرتبه څرنګده وي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ ته خبر داري راکوي چي په تاسي غوره هغه څوک دی چي قرآن کريم زده کوي او نورو خلکو ته يي رسوي دا خلک په ټولو انسانانو کي غوره او د لوړ مقام او مرتبي خاوندان دي.

کله چي يو مشهور تابعي ابو عبد الرحمن السلمي دا حديث بيان کړ نو ويويل: دا هغه حديث دی چي زه يي د قرآن کريم د ښوني لپاره څو لسيزي په همدي چوکي کينولی يم تر څو ددي حديث په ګټورو خلکو کي شمار شم(1).

(۱) أخرجه البخاري في الموضع المذكور في الحاشية السابقة؛ وابن حبّان (الإحسان: ۳۲۵/۱) برقم (۱۱۸)، واللفظ له.

په همدې خاطر باید هر مسلمان نارینه او ښځینه د قرآن کریم په زده کړه او ښونه کې خپل وخت تیر کړي تر څو وخت یې قیمتي او لوړ مقام او مرتبه تر لاسه کړي.

د قرآن کریم د زده کړې لپاره غوره لار په مسجدونو او مدرسو کې د قرآن کریم د حلقو سره ځان پیوسته کول دي هغه څوک چې دا کار ترسره کړي نو د شک پرته د خیر او رښا په لاره روان شو.



## ۱۱

د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي:

**نبي کريم صلی الله عليه وسلم ويلي دي: دوه کلمې دي ويل په ژبه ډير اسان دي، مګر په تله د ميزان کې ډيرې درنې دي، او رحمن ذات ته ډيرې خوښې دي هغه دوه کلمې داديي: «سبحانَ اللّهِ وبِحَمْده، سبحانَ اللّهِ العظيم»**

### تشريح:

نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ هڅوي تر څو د الله پاک ډير ذکر اوکړو، په همدې خاطر يې مونږ ته د ذکر غوره والی او اهميت ذکر کړی دی او د سبا، ماښام، د خوب او د خوب څخه د راپيداريدلو ذکرونه ټاکلي دي کوم چې د اذکارو په کتابونو کې شتون لري، لکه د امام نووي کتاب (الاذکار) د مام ابن باز کتاب (تحفة الأخيار) او ابن وهب قحطاني کتتاب ( حصن المسلم) کتاب وغيره شول.

او ځينې نور داسي اذکار دي چې يو مسلمان هغه په هر وخت کې کولی شي او بايد چې په هروخت کې د مسلمان ژبه د الله پاک په ذکر باندي لونده وي، لکه دا ذکرونه شول:

**«سبحان الله، والحمد لله، ولا إله إلا الله، والله أكبر، ولا حول ولا قوة إلَّا بالله»**

**ژباړه:** الله پاک او د ستاینې خاوند دی، هیڅ معبود برحق نشته مګر یواځې الله پاک دی، اللهپاک ډیر لوې دی، هیڅ ساتنه د ګناه څخه او توان په نیکې بتاندې نشته مګر د الله پاک لخوا څخه دی.

همدغه شان دا ذکر:

**«سبحانَ اللّهِ وبِحَمْده، سبحانَ اللّهِ العظيم»**

**ژباړه:** الله پاک او د ستاینې خاوند دی، الله پاک او لوې او عظیم دی.

بیله شکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته ددې ذکر درې ځانګړتیاوې بیان کړې دي:

**(۱) لمړی:** داچې ددې ذکر ویل په ژبه باندې ډیر اسان دي هیڅ زیار ته اړتیا نلري.

**(۲) دوهمه:** داچې دا ذکر د میزان په تله کې ډیر وزن لري معنا داده چې ددې ذکر کونکې په اجر او ثواب سره به د هغوې تله د میزان ډکه شي.

**(۳) دریمه:** دا ذکر د الله پاک ډیر خوښ دی او ورسره مینه لري په همدې خاطر دا ذکر ډیر د لوې شان اجر او ثواب واله ذکر دی.

مونږ باید ددې ذکر او ورسره د نورو ذکرونو ته ډیره پاملرنه اوکړو او په هروخت کې خپله ژبه باید د الله پاک په ذکر باندې لونده تر څو د الله پاک لخوانه ډیر اجرونه او ثوابونه تر لاسه کړو.

# ۱۲

**د ابـو هريـره رضي الله عنـه څخـه روايـت دی هغـه وايـې:** ما ته زمـا دوسـت عليـه الصـلاة والسـلام د درې خـبرو وصيـت کــړی دی: پــه هــره مياشــت کــې درې ورځــې روژې نيــول، او څاښـت دوره رکعتـه لمونـځ کـول، او د ويـده کيدلـو څخـه مخکې د وتـر لمونـځ کـول.

## تشريح:

ابـو هريـره رضي الله عنـه د لـوړ شـان خاونـد او نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم تـه ډيـر نيـږدې وه، مونـږ تـه د نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم وصيـت را نقـل کـوي وايـې: زمـا دوسـت ماتـه دا وصيـت کـړی دی د دوسـت لفـظ د ډيـرې مينـې او محبـت لپـاره راځـي:

لمـړی وصيـت: هـر مياشـت درې ورځـې روژې نيـول د ډيـر اجـر او ثـواب لامـل ګرځـي تـر دې چـې نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم ويلـې دي چـې هـره مياشـت درې ورځـې روژې نيـول د ټـول عمـر د روژې نيولـو سره پـه اجـر او ثـواب کـې برابريـږي دا د الله پـاک ځانګـړې پـير زوينـه ده [1].

دا درې ورځـې روژې نيـول نفـلي روژې دي چـې يـو مسـلمان يـې

(۱) أخرجـه البخـاري فـي كتـاب الصيـام، بـاب حـق الجسـم فـي الصـوم، برقـم (۱۹۷۵)؛ ومسـلم فـي كتـاب الصيـام، برقـم (۱۱۵۹)؛ مـن حديـث عبـد الله بـن عمـرو بـن العـاص رضـي الله عنهمـا.

په هره میاشت کې پرله پسې یا جدا جدا د اجر او ثواب په نیت اونیسي.

**دویم وصیت:** د څاښت دوه رکعته یا د دوو څخه ډیر لمونځ کول د څاښت په وخت کې د یو مسلمان لپاره ډیره غوره ده چې دوه یا د دوو څخه ډیر نفلي لمونځ ادا کړي او ډیر اجر او ثواب تر لاسه کړي.

**دریم وصیت:** د وتر لمانځه خاص خیال کول ځکه چې په نفلي لمونځونو کې وتر لمونځ تر ټولو غوره لمونځ دی وخت یې د ماخوستن د لمانځه نه بعد پیل کیږي تر سبا راختلو پورې وتر لمونځ دادی چې ي، مسلمان د الله پاک د رضا په خاطر یو رکعت، یا درې رکعته، یا پنځه رکعته یا ددي نه هم ډیر لکه اووه رکعته یا نهه رکعته ادا کول وترو کې دا خبره اړینه ده چې شمیر به یې تاق وي ځکه چې د وتر معنا هم تاق ده نبي کریم صلی الله علیه وسلم اګر که دا وصیتونه ابو هریره رضي الله عنه ته کړي دي خو زمونږ ټولو لپاره هم دا وصیتونه دي.

# ۱۳

**ابـو هریـره رضي الله عنـه څخـه روایـت دی هغـه وایـې: نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم ویلـي دي: یـو بنـده خپل پـروردګار تـه د سـجدې پـه حالـت کـې ډیـر نیـژدې وي نو تاسـې د سـجدې پهـو حالت کـې ډیـرې دعـګاني اوغـواړي.**

## تشریح:

الله پـاک خپلـو بندګانـو تـه حـکـم کـړی چـې پـه بیلابیلـو عبادتونـو بانـدي هغـوې بایـد خپـل پـروردګار تـه خپـل ځانونـه نیـژدې کـړې، پـه دغـه عبادتونـو کـې د لـوړ شـان او مرتبـې واله عبـادت فـرضي او نفـلي لمونځونـه ادا کـول دي کلـه چـې یـو مسـلمان پـه لمانځـه پیـل او کـړي نـو خپـل پـروردګار تـه ډیـر نیـژدې شي.


سره له دینـه چـې یـو بنـده د لمانځـه پـه حالـت کـې خپـل پـوردګار ته ډیـر نیـژدي وي مګـر پـه لمانځـه کـې بیـا د سـجدې پـه حالـت کـې ډیـر زیـات خپـل پـروردګار تـه نیـژدې وي، ځکـه چـې د سـجدې پـه حالـت کـې یـو بنـده خپـل پـروردګار تـه ډیـر زیـات دخاکسـارۍ او عاجـزۍ پـه حالـت کـې وي د هغـه پـاکي او سـتاینه کـوي د هغـه نـه دعاګاني غـواړي او هغـه تـه یـې خپـل ځـان ډیـر عاجـزه کـړی وي.

په همدې خاطر په لمانځه کې د سجدې حالت د دعاګانو د قبلیدلو لپاره اړین وخت دی لکه څرنګه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي:

«وَأَمَّا السُّجودُ فَاجْتَهِدُوا في الدُّعاءِ فَقَمِنٌ أن يُستجابَ لكم»[1].

**ژباړه:** هر چې د سجدې حالت دي نو تاسې په کې ډېرې دعاګانې اوغوړې ډېر امید دی چې ستاسې دعاګانې به قبلوې شي.

په همدې خاطر د یو مسلمان لپاره غوره دي چې سجده اوږده او ډېرې دعاګانې پکې اوغواړي څکه چې دعاګانې او سجدې د دنیا او آخرت د کامیابي لپاره اړین سببونه دي.



(١) أخرجه مسلم في كتاب الصلاة، برقم (٤٧٩)، من حديث ابن عباس رضي الله عنهما.

# ١٤

ثابت بن ضحاک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: په یو مؤمن باندې لعنت ویل د هغه وژل دي.

## تشریح:

په مؤمن باندې لعنت ویل لویه ګناه ده بیله شکه مونږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مؤمن باندې د لعنت ویلو څخه منع کړې یو، لکه په دې حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: «لَعْنُ المُؤْمِنِ كَقَتْلِهِ» ژباړه: په یو مؤمن باندې لعنت ویل د هغه وژل دي.

همدغه شان نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي:

«لا تَلاعَنُوا بِلعنةِ اللّهِ، ولا بِغَضَبِهِ». رواه أبو داود، والترمذي[1]، وقال: حديثٌ حسنٌ صحيح.

---

(١) أخرجه أبو داود في كتاب الأدب، باب في اللعن، برقم (٤٩٠٦)؛ والترمذي في أبواب البر والصلة، باب ما جاء في اللعنة، برقم (١٩٧٦)؛ الحاكم (١١١/١) وصحّحه؛ من حديث سمرة بن جندب رضي الله عنه.

ژباړه: تاسې په يو بل باندې د الله پاک لعنت او غضب مه وايئ.

همدغه شان نبي کريم صلى الله عليه وسلم ويلي دي:

«مَن لعَنَ شيئًا ليس له بأهلٍ رجعت اللعنةُ عليه» (2).

ژباړه: که يو څوک په يو شي باندې لعنت ووايي او هغه يې حقدار نه وي نو لعنت بيرته پر دې ويونکي باندې راګرځي.

همدغه شان په طبراني کې روايت دی:

«كنَّا إذا رأينا الرجلَ يلعن أخاه، رأينا أنَّه قد أتى بابًا من الكبائر».(3)

ژباړه: مونږ به چې يو څوک وليد چې په بل ورور يې لعنت وويلو نو مونږ به ويل چې ده يوه لويه ګناه اوکړه.

شيخ ابن باز رحمه الله ويلي دي: په مسلمان باندې لعنت ويل لويه ګناه ده (4).

په ډير خفګان سره وايو چې نن سبا د مسلمانانو تر مينځ لعنت ويل ډير شوي دي ـ الله مددګار دی ـ

په مونږ ټولو باندې واجب ده چې د لعنت ويلو څخه ډه ډه اوکړو او نور خلکو ته بايد د لعنت ويلو څخه ويره ورکړو.

---

(٢) أخرجه أبو داود في كتاب الأدب، باب في اللعن، برقم (٤٩٠٨)؛ والترمذي في أبواب البر والصلة، باب ما جاء في اللعنة، برقم (١٩٧٨)؛ وابن حبان (الإحسان: ١١/٥٥)، برقم (٥٧٤٥)؛ من حديث ابن عباس رضي الله عنهما.

(٣) في «المعجم الأوسط» (٦/٣٨٠) برقم (٦٦٧٤).

(٤) «مجموع فتاوى ومقالات» للشيخ ابن باز رحمه الله (١٤٨/٧).

# ۱۵

**د ابـو هریـره رضی الله عنـه څخـه روایـت دی هغـه وایـي:**

**نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم ویلـي دي: چـې الله پـاک ویلـې دي: ای د آدم بچیـه! تـه خرچـه کـوه زه بـه پـه تـا خرچـه کـوم.**

## تشریح:

یـو ښایسـته هغـه خـوي او صفـت چـې الله پـاک وربانـدي د خپلـو مؤمنانـو بندګانـو سـتاېنه کـوي هغـه د الله پـاک پـه لاره کـې خرچـه کـول دي د همـدي پـه هکلـه الله پـاک ویلـې دي:

﴿الٓمٓ ١ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ٢ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣﴾[1].

ژبـاړه: الـف، لام، میـم دا (عظیـم) کتـاب دی، پـه ده کـې هیـڅ شـک نشـته، د پرهېزګارانـو لپـاره هدایـت دی. هغـه خلـق چـې پـر غیبـو ایمـان راوړي او لمونـځ قایمـوي او له هغـه (مـال) نـه څـه حصـه خـرچ کـوي؛ چـې مونـږ. هغـوی تـه ورکـړی دی.

د الله پـاک د رضـا پـه خاطـر د خرچـې کولـو بیلابیـل ډلونـه دي

(۱) سورة البقرة، الآيات: ۱-۳.

چې ځينې يې دادي: په خپله ښځه او بچو باندې خرچه کول، په فقيرانو مسکينانو باندې خرچه کول، همدغه شان د خير په کارونو کې خپل مال لګول لکه د قرآن کريم او نورو ګټورو کتابونو خپره ول د مريضانو درملنه کول همدغه شان نور د خير په کارونو کې خپل مال لګول د الله پاک د رضا په خاطر ديته د الله پاک په لاره کې خرچه کول وايي.

او په دې مبارک حديث کې د الله پاک لخوانه د هغه چا سره چې د الله پاک په لاره کې خپل مال خرچه کوي وعده شوې ده چې الله پاک به ورته د خپلې مهربانۍ څخه پراخه رزق ورکوي د الله پاک وينا ده:

﴿قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥۚ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَهُوَ يُخۡلِفُهُۥۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ٣٩﴾(٢).

ژباړه: ووايه: بېشکه زما رب رزق فراخوي چا ته چې وغواړي

په خپلو بنده ګانو کې او د هغه لپاره يې تنګوي او تاسو چې څه شی هم لګوئ، نو هغه د دغه (څيز) عوض درکوي او هغه تر ټولو غوره رزق ورکوونکی دی .

هغه څوک چې په خپله کورنۍ، مور او پلار، خپلو خپلوانو فقيرانو مسکينانو او بې وزله خلکو سره مرسته او مدد کوي او د خير په بيلابيلو کارونو کې خپل مال خرچه کوي نو الله پاک به ورته اجر او ثواب ورکوي او د هغه په رزق کې به پراخي راولي دا د الله پاک فضل او مهرباني ده چې خپلو بندګانو ته يې ورکوي.

---

(٢) سورة سبأ، الآية: ٣٩.

## ۱۶

**د ابـو هریـره رضي الله عنـه څخـه روایـت دی، هغـه وایـې:**
**نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم ویلـې دي:** **نـه رسـیږي هیـڅ یـو مسـلمان تـه څـه سـتړتیا، مـرض، سـختي، غـم او تکلیـف تـر دې چـې هغـه ازغی چـې ده پـه خپلـه کـې لاړ شي، مگـر الله پـاک وربانـدې د بنـده گناهونـه رژوي**

### تشریح:

انسـان د دنیـا پـه ژونـد کـې د بیلابیلـو کړاونـو، سـختیو او غمونـو سره مخامـخ کیـږي خـو پـه دې مبـارک حدیـث کـې مونـږ تـه نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم یـو لـوې زیـری او خوشـخبري راکـوي چـې مونږ یـې باید پـه هـر حالـت کـې خپـل ځـان تـه رایـاد کـړو ځکـه هغـه داسي زیـری دی چـې زړونـه خوشـحالوي، او روح تـه سـکون ورکـوي هغـه زیـری او خوشـخبري داده: : نـه رسـیږي هیـڅ یـو مسـلمان تـه څـه سـتړتیا مـرض، سـختي، غـم او تکلیـف مگـر الله پـاک وربانـدي د بنـده گناهونـه رژوي نـو د یـو بنـده کړاونـه، مرضونـه، تکلیفونـه او سـختي د هغـه د گناهونـو لپـاره د ښـلو سـبب اوگرځـي تـر دې چـې د هغـه کړاونـو او سـختیو څخـه پـه داسي حالـت کـې را ووځـي چـې گناهونـه یـې ښـل شـوي وي او خپـل پـروردگار تـه ډیـر نیـژدي شـوی وي.

او د نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم دا خـبره چـې هغـه ازغی چـې د یـو مؤمـن پـه ښـپه کـې لاړ شي هـم د هغـه لپـاره د ښـني او مغفـرت

سـبب ګرځـي ددينـه دا معلوميـږي چـي تکليفونـه او کړاونـه د بنـده د ګناهونـو د بښـلو لپـاره سـبب دي اګـر کـه ډيـر لـږ کـړاو او تکليـف هـم وي.

کلـه چـې يـو مؤمـن پـه دي خـبره بانـدي يقـين او بـاور اوکـړي نـو خوشـحاله شي او هميشـه بايـد د صـبر او زغـم ځـخـه کار واخـلي تـر څـو الله پـاک ورتـه اجرونـه او ثوابونـه ور پـه برخـه کـړي.



## ۱۷

**د ابـو هريـره رضي الله عنـه څخـه روايـت دی، هغـه وايـې: نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـي دي: تاسـې جنـت تـه تـر هغـه وخـت پـوري نـه شـې تلـلی تـر څـو چـې تاسـې ايمـان ونلـري او تاسـې تـر هغـه وخـت پـوري ايمـان نـه شـې تـر لاسـه کـولی تـر څـو چـې تاسـې د يـو بـل سره مينـه او محبـت اونـه کـړې آيـا زه تاسـې تـه داسـې يـو عمـل او نـه ښـايم چـې د هغـې پـه تـر سره کولـو سره بـه تاسـې د ي، بـل سره مينـه او محبـت پيـدا شي هغـه عمـل دادی چـې پـه خپلـو مينـځ کـې سـلام اچـول ډيـر او خپـور کـړی.**

### تشريح:

پـه دې مبـارک حديـث کـې نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم مونـږ د يـو اړيـن کار پـه لـور هڅـوي چـې هغـه د يـو بـل سره مينـه او محبـت کـول دي، نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـي دي: تاسـې تـر هغـه وخـت پـورې جنـت تـه نـشي تلـلی تـر څـو چـې ايمـان ونلـرئ او تـر هغـه وخـت پـورې بشـپړ ايمـان نـه شـې تـر لاسـه کـولی تـر څـو چـې د يـو بـل سره مسـنه او محبـت او نـه کـړئ او مينـې او محبـت تـه د رسـيدلو لپـاره يـو خـورا اسـان کار چـې سـلام اچـول او خـپره ول دي.

ددي مبـارک حديـث څخـه مونـږ تـه دا خـبره پـه ډاګـه کيـږي چـې د مسـلمانانو تـر مينـځ د مينـې او محبـت پيـدا کولـو لپـاره سـلام اچـول او د مسـلمانانو تـر مينـځ مينـه او محبـت د ايمـان د ډيـر والي سـبب دی، او ايمـان ډيـر والی جنـت تـه د تللـو سـبب دی.

او دسلام په ډولونو کې تر ټولو غوره سلام دادی:

**«السلام عليكم ورحمة الله وبركاته».**

**ژباړه:** پـه تاسـې دې د الله پـاک لخوانـه سـلامتیا او رحمتـوو نـه وي. او د سـلام جـواب پـه ورکولـو کـې تـر ټولـو غـوره جـواب دادی:

**«وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته».**

**ژبـاړه:** پـه تاسـې دې هـم د الله پـاک لخوانـه سـلامتیا او رحمتـوو نـه وي.

هـر یـو مسـلمان بایـد د سـلام اچولـو او د هغـې جـواب ورکولـو تـه ځانګـړې پاملرنـه اوکـړي او د سـلام پـه اچولـو کـې بایـد هیـڅ ډول شرم او نــه کــړي ځکــه چــې ســلام د اجــر، ثــواب او د ایمــان د ډیــر والي او جنـت تـه د تللـو لامـل ګرځـي.

# ۱۸

**د ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: یو سړی دې دبل سړي او یوه ښځه دې د بلې ښځې شرمګاه ته نه ګوري.**

## تشریح:

دا مبارک حدیث مونږ ته د یو اړین کار سپارښتنه کوي چې مونږ یې باید عملي کړو هغه داچې د هر یو انسان نارینه وي او که ښځینه وي شرمګاه وي خپله شرمګاه باید پټه کړي، او په نورو خلکو واجب ده چې خپلې سترګې دبل چا د شرمګاه څخه ښکته کړي او هغې ته او نه ګوري په حدیث کې چې د یو سړي د بل سړي او یوې ښځې د بلې ښځې شرمګاه ته د کتلو نه منع راغلې ده نو د یوسړي د بلې ښځې شرمګاه ته یا د ښځې د سړي شرمګاه ته کتل خو خامخا ناروا او منع دي.

پر مونږ واجب دي چې خپلې شرمګاه پټې کړو تر څو دنورو خلکو سترګي وربانـدي او نه لګیږي او په دې کې باید هیڅ ډول

کمی او نه کړو، ځکه چې په دې کې هیڅ ډول سستیا توقې وغیره په هیڅ وخت کې نه چلیږي.

# ۱۹

**د ابو صعب بن جثامه رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي:** بيله شکه چې هغه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته ښکار په ډالۍ کې ورکړو مګر نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته بيرته ورکړو او ترينه يې قبول نکړ، خو کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د هغه په مخ کې خفګان وليد نو ورته يې وويل: ځکه مي ستا ډالۍ قبوله نکړه چې زه د احرام په حالت کې يم ـ ته مه خفه کيږه

## تشريح:

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ملګرو به هغه ته ډالۍ ورکولې او نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د هغوي ډالۍ په خوشحالۍ سره قبلولې او د هغې بدله به يې هم ورکوله، نبي کريم صلی الله عليه وسلم د حج په سفر روان و چې د صعب بن جثامه په نوم يو صحابي ورته يو ښکار په ډالۍ کې ورکړو ترڅو د هغې څخه خوراک اوکړي مګر نبي کريم صلی الله عليه وسلم د هغه ډالۍ رد کړه او قبوله يې نکړه ځکه چې هغه د احرام په حالت کې و او د محرم لپاره ښکار خوړل جواز نلري، خو کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ډالي رد کولو په وخت د هغه په مخ کې خفګان وليد نو عذر يې ورته پيش کړ او ورته يې وويل: ددي په وجه مي ستا ډالۍ قبوله نکړه چې د احرام په حالت کې يم او د احرام په حالت کې ښکار خوړل جواز نلري نو هغه صحابي خوشحاله شو

او خفګان يې ختم شو بيا يې دا حديث نورو ملګرو ته بيان کړ.

ددي حديث نه مونږ ته دا خبره په ډاګه کيږي چې په داسي يو حالت کې بايد سبب او عذر بيان شي تر څو خپل مينځې زړه بداوی پيدا نشي او د شيطان وسوسي له مينځه لاړې شي.

د الله پاک وينا ده:

﴿ وَقُل لِّعِبَادِى يَقُولُوا۟ ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ ۚ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ يَنزَغُ بَيْنَهُمْ ۚ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿٥٣﴾ ﴾[١].

ژباړه: او ته زما بنده ګانو ته ووايه چې هغه خبره دې وايي چې هغه تر ټولو ښه وي، بېشکه شيطان د دوی په مينځ کې دښمني اچوي، بېشکه شيطان د انسان لپاره له شروع نه ښکاره دښمن دی.

امام نووی دا حديث په رياض صالحين کې د ښو اخلاقو په باب کې ذکر کړی دی ددي لپاره چې د يو مسلمان ورو خفګان له مينځ وړل او هغه ته عذر پيش کول د ښو اخلاقو له جملې څخه دي.

---

(١) سورة الإسراء، الآية: ٥٣.

## ۲۰

**د حذیفه بن یمان رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: چغلخور به جنت ته لاړ نشي.**

### تشریح:

دا مبارک حدیث د هغه حدیثونو له جملې څخه دی چې مونږ ته د ژبې د افتونو څخه ویره راکوي د ژبې افتونه خورا ډیر او بیلابیل دي ځینې د هغه افتونو څخه غیبت او چغلي کول دي .

امام نووي رحمه الله ویلي دي: ( پوهه شه چې غیبت او چغلي دا هغه ناکاره او بد خویونه او صفتونه دي چې د خلکو ترمینځ خورا ډیر شتون لري ډیر لږ بندګان ددي بد خوینو څخه خپل ځانونه روغ رمټ ساتي. [1].


په دي مبارک حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ د یوې لوی ګناه او بد اخلاقی څخه منع کوي خبردار هغه ګناه چغلي کول دي نو ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم وویل:

---

(۱) کتاب الأذکار، تحقیق الشیخ عبدالقادر الأرناؤوط ص ۳۳٦.

چغلخـور بـه جنـت لا ړ نـشي.

چغـلي کـول: ديتـه وايـې: چـې د خلکـو تـر مينـځ د يـو بـل خـبري د فسـاد جوړلـو لپـاره يـو بـل تـه وړل تـر څـو جنـګ جګـړې او دښـمني پيـدا شي، نـو هـر يـو مسـلمان نارينـه وي کـه ښـځينه وي بايـد د چغلـې کولـو څخـه ډه ډه اوکـړي ځکـه چـې چغلـې کـول د جنـت څخـه انسـان بې بـرخي کـوي او د قـبر د عـذاب سـبب ګرځـي.




## ۲۱

د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي:
**نبي کريم صلی الله عليه وسلم ويلي دي: هر يو مسلمان چې يو څه نيالګی نال کړي يا يو څه اوکري او د هغې نه مرغي، انسان، يا حيوانات خوړک کوي نو د هغه لپاره به صدقه وي.**

### تشريح:

کر کيله يو انساني پر مخ تللی عمل دی چې د ډيرو خيرونو او مالدارۍ لامل ګرځي، او په دې سر بيره د الله پاک مهرباني په خپلو بندګانو هغه داده چې هر يو مسلمان يو څه نيالګي نال کړي يا يو څه اوکري او د هغې نه مرغی، انسانانان، يا حيوانات خوراک کوي نو د هغه لپاره به صدقه وي اګر که هغه دا کر کيله د خير خيرات لپاره نه ده کړې بلکه د رزق روزۍ، تجارت او مالدارۍ په خاطر يې کړې ده، خبره په دې ولاړه نه ده بلکه هر ښه عمل چې يو مسلمان يې تر سره کړي او نور خلک د هغې نه ګټه پورته کوي نو ده ته د هغې اجر او ثواب په برخه کيږي، د بيلګې په توګه يو څاه اوکندي د هغه څاه نه انسانان، مرغان، او حيوانات اوبه څښکي نو ده ته به د هغې اجر او ثواب تر لاسه کيږي، همدغه شان نور ښه عملونه شول.



# ۲۲

د ابـو هريـره رضي الله عنـه څخـه روايـت دی، هغـه وايـې: د يـو سـړي پـه نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم بانـدي قـرض و راغی او د نـبي کريـم صلى الله عليـه وسـلم څخـه يـې قـرض غوښـتلو او لـږ سـختي يـې اوکـړه، د نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم ملګـرو غوښـتل چـې دا سـړي را ونيـسي مګـر نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم منـع کـړل او داسـې يـې ورتـه وويـل: دا سـړی پريـږدئ ځکـه د حـق خاونـد تـه د خـبرو کولـو حـق تـر لاسـه دی.

## تشريح:

نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم د يـو سـړي څخـه اوښ پـه دې شرط اخسـتلی و چـې پيسـې بـه يـې يـو څـه وخـت بعـد درکـوم، کلـه چـې هغـه وخـت پـوره شـو نـو هغـه سـړی راغی او د نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم نـه يـې پيسـې غوښـتلې پـه قهـر و او اواز يـې اوچـت کـړی و، کلـه چـې د نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم ملګـرو دا حالـت اوليـد نـو پـه قهـر او غوسـه شـول غوښـتل يـې چـې دا سـړی اوډبـوي ځکـه چـې د نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم مخامـخ يـې د هغـه ادب تـر پښـو لانـدې کـړ، مګـر نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم خپـل ملګـري منـع کـړل او ورتـه يـې وويـل: دې سـړي تـه هيـڅ مـه وايـې ځکـه چـې د حـق خاونـد لـره د ويلـو حـق شـته.

ددي حديث نه مونږ ته دا اړينه خبره په ډاګه کيږي چې کله يو څوک خپل حق غواړي نو مونږ بايد د هغه خبرې واورو او سمد واره يې بد نام نه کړو او که چيرته د حق خاوند يو څه خبرې اترې او غوسه اوکړي نو مونږ بايد هغه را ګير نه کړو.

بله اړينه خبره داده: چې مونږ بايد په نبوي اخلاقو خپل ځانونه سبال او ښاپسته کړو، او هرچاته د هغوې حقونه ور ورسوو تر څو خپل منځي جنګ جګړې لږې يا پاې ته ورسيږي.

## ۲۳

د قتـاده رضي الله عنـه څخـه روايـت دی هغـه وايـې: نـبي کريم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـې دي: کـه څـوک غـواړي چـې د اخـرت پـه ورځ د کړاونـو او سـختيو څخـه وژغـورل شي نـو تنګدسـته سره دې آسـاني اوکـړي او يـا دې ورتـه قـرض وبښـي.

### تشريح:

د اخـرت هغـه لويـه ورځ ده چـې الله پـاک بـه د خپلـو بندګانـو سره دښـو او بـدو علمونـو حسـاب کتـاب او فيصلـه کـوي، بيـا بـه د جنـت او د دوزخ فيصلـه او حکـم کـوي، پـه هغـه لويـه ورځ بـه خلـک د سـتو کړاونـو او تکليفونـو سره مشـت او ګريـوان وي، نـو کـه څـوک غـواړي چـې پـه هغـه لويـه ورځ د سـختيو او کړاونـو څخـه خپـل ځـان وژغـوري نـو د تنـګ لاسـه سره دې آسـاني او کـړي او يـا دې ورتـه قـرض وبښـي ځکـه چـې تنـګ لاسـه سـړی سره آسـاني کـول يـو نيـک او غـوره عمـل دی مګـر واجـب نـه دی د تنـګ لاسـه سـړي سره آسـاني داسـې تـر سره کيـږي چـې يـو څـوک ورتـه د مـال اخسـتلو پـه نيتـه کـې بيـړه او نـه کـړي او لـږ وخـت ورتـه ورکـړي تـر څـو هغـه وکـولی شي چـې مـال پيـدا او ادا کـړي، يـا ورتـه ټـول مـال يـا د مـال لـږه برخـه اوبښـي د لا وضاحـت لپـاره داسـې وايـو چـې يـو سـړی سـتا څخـه قـرض واخـلي بيـا چـې د قـرض وخـت پـوره شـو او تـه پوهـه شـوې چـې د قرضـه ورې لاس

تنګ دی او نشي کولي چې ستا قرض ادا کړي نو لږ صبر او زغم اوکړه او یا ورته خپل حق وبښه ټول او یا یوه برخه د هغې که چیرته دې دا نیک او غوره عمل تر سره کړ نو ډیر خیرونه به لاس ته راوړي او د قیامت په ورځ د سختیو او کړاونو څخه به روغ رمټ پاتي شې.

# ۲٤

**د ابـو هريـره رضي الله عنــه څخـه روايـت دی، هغــه وايــي:**
**نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم ويلـې دي: دوکـه مـار زمونـږ له ټولګـي څخـه نـه دی.**

## تشريح:

يـوه ورځ نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم بـازار تـه تلـلى و، پـه يـو سـړي ورتـير شـو چـې د غنمـو ډيـری يـې خرخـلاو تـه ايښـی و، مګـر د بـاران څاڅکـو د هغـه ډيـری لونـد کـړی و نـو هغـه سـړي هغـه لوانـد غنـم پـه خپـل ډيـري کـې پټـول تـر څـو خلکـو تـه ښـکاره نـه شي، نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم  د هغـه پـه دوکـه بانـدي پوهـه شـو نـو خپـل لاس يـې د هغـه پـه ډيـري کـې دننـه کـړ، پوهـه شـو چـې لانـدي غنـم لوانـده  دي نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم هغـه سـړی ورټلـو او ورتـه يـې وويـل:

«أفلا جعلتَه فوقَ الطعام كي يراه الناس، من غشَّنا فليس منَّا».

**ژبـاړه:** لوانـده غنـم دي د ډيـره کي پـه سر ولي نـږدي چـې خلکـو تـه ښـکاره شي، هغـه څـوک چـې دوکـه کـوي زمونـږ له ټولګـي څخـه نـه دی.

**مطلب يې دادی:** چې پېرونکی باید په خرڅلاو کې رښتنی او خیر خواه وي، د خپل مال هغه ستاینه به نه کوي کوم چې د حقیقت سره اړخ نه لګوي او نه باید د خپل مال عیب او نقصان پټ کړي او نه باید د خپل مال قیمت او بیه لوړه کړي، په دې مبارک حدیث کې ددي ذلیه خوې او ګناه څخه سخته منع راغلې ده هیڅ یو مسلمان لره هیڅ شرعي جواز نشته چې په پیر او پلور کې و غیره کې دوکه اوکړي ځکه چې هر ډول دوکه کول حرام دي.

# ۲۵

**د ابـو امامـه رضي الله عنـه څخـه روايـت دی، هغـه وايـې:**

**نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـي دي: هغـه څـوک چـې د بـل مسـلمان حـق د قسـم خوړلـو پـه مـټ ځانتـه کـړي نـو الله پـاک د هغـه لپـاره د دوزخ حکـم او فيصلـه کـړې ده او جنـت يـې وربانـدي حـرام کـړی دی، يـو سـړي وويـل: ای د الله پـاک پيغمـبره! کـه ډيـر لـږ حـق وي؟ نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم وويـل: اګـر د اراک ونـې لښـته هـم وي.**

## تشريح:

د اسـلام مبـارک ديـن د خلکـو حقونـو تـه ډيـره پاملرنـه کـړې ده، زمونـږ لپـاره هيـڅ شرعي جـواز نشـته چـې مونـږ د بـل چـا حـق پـه ناحقه سره واخلـو برابـره خـبره ده چـې دا حـق مـال وي يـا بـل څـه وي.

پـه دې مبـارک حديـث کـې مونـږ تـه نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم د خلکـو د حقونـو اخسـتلو څخـه پـه سـختۍ سره منـع کـوي او خـبر راکـوي کـه يـو څـوک د بـل چـا حـق د قسـم خوړلـو پـه مـټ خپـل ځانتـه کـړي نـو الله پـاک بـه يـې د دوزخ اور تـه داخـل کـړي او جنـت

بـه وربانـدي حـرام کـړي، کلـه چـې د نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم ملګـرو دا حدیـث واوریدلـو نـو پوښـتنه یـې اوکـړه چـې ای د الله پـاک پیغمـبره کـه چیرتـه داحـق ډیـر لـږ وي؟ نـو نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم ورتـه وویـل: اګـر کـه دا حـق د اراک ونـې د لښـتې برابـر هـم وي اراک د مسـواک ونـه ده دهغـې د لښـتې نـه مسـواک جوړیـږي.

# ۲۶

**ابـو مـوسی اشـعري رضي الله عنـه څخـه روایـت دی هغـه وایـي:** نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم هغـه او ورسره معـاذ رضي الله عنهمـا یمـن تـه لیږلـو، داسـي يـې ورتـه وویـل: آسـاني کـوې، سـختي مـه کـوې، زیـري او خوشـخبري ورکـوي، نفـرت مـه خـپره وې، د یـو بـل خـبره مـنې، اختـلاف مـه کـوې.

## تشریح:

نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم خپـل دوه ملګـري د لـوي شـان خاونـدان ابـو مـسی اشـعري او معـاذ بـن جبـل رضي الله عنهمـا یمـن تـه لیږلـو تـر څـو یمنیانـو تـه د دیـن ښـونه اوکـړي نـو مخکـې ددینـه چـې هغـوې د یمـن پـه سـفر روان شي نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم ورتـه دا نصحیتونـه او سپارښـتنې اوکـړې:

**لمـړی نصیحـت:** آسـاني کـوئ سـختي مـه کـوئ مطلـب دادی چـې د خلکـو سره پـه چـال چلنـد کـې نـرمي کـوئ سـختي مـه کـوئ هغـوې تـه خـبر ورکـړئ چـې د الله پـاک دیـن آسـان دی چـې هيـڅ ډول سـختي نلـري.

**دوهـم نصیحـت:** زیـري او خوشـخبري ورکـوئ، نفـرت مـه خـپره وئ، مطلـب دادی چـې خلکـو تـه د زیـري او خوشـحالي او د الله پـاک د مهربانـی خـبرې کـوئ او هيـڅ ډول نفـرت مـه خـپره وئ چـې خلـک د

دیــن او ایمــان څخــه سر غړونــه ونــه کــړي.

**دریـم نصیحـت:** د یـو بـل خـبره مـني او د اختـلاف څخـه ډه ډه اوکړئ، مطلـب دادی چـې د یـو بـل سره مینـه او محبـت او د یـو بـل خـبره ومنـئ تـر څـو د اختـلاف او جنـګ جګـړې نـه اوژغـورل شـئ او دوسـتانه مـو دوام پیـدا کـړي.

ددي خـبرې نـه زمونـږ لپـاره دا ګټـه پـه ډاګـه کیـږي چـې یـو ملګـری بـه د بـل ملګـري سره مینـه او محبـت کـوي د هغـه خـبره بـه مـني تـر څـو خـبره یـې د شریعـت موافـق وي او هغـه څـوک چـې د ملګـرو سره جنـګ جګـړې او اختـلاف کـوي نـو هغـه د نـبي کریـم صـلی الله علیـه وسـلم د لار ښـونې څخـه سر غړونـه کـوي.

## ٢٧

د ابـو مـوسی اشـعري رضي الله عنـه څخـه روايـت دی هغـه وايـې: نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـې دي: هغـه څـوک چـې پـه مونـږ وسـله را واړه وي زمونـږ له ټولګـي څخـه نـه دی.

### تشريح:

امـن امـان د الله پـاک پـه پـير زوينـو کـې يـوه لويـه پـير زوينـه او د سـوکاله ژونـد تـيره ولـو لپـاره ډېـره اړينـه ده، الله پـاک پـه خپلـو بندګانـو بانـدي د امـن امـان پـير زوينـه تـه پـه کتنـې سره داسي ويلـې دي:

﴿فَلْيَعْبُدُوا۟ رَبَّ هَٰذَا ٱلْبَيْتِ ﴿٣﴾ ٱلَّذِىٓ أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍۭ ﴿٤﴾﴾[١].

ژباړه: نـو لازم دي چـې دوی د دې کـور د رب عبـادت وکـړي، هغـه (رب) چـې دوی تـه يـې له لـوږې نـه (د بـچ کولـو لپـاره) طعـام ورکـړی دی او دوی تـه يـې له وېـرې نـه (د سـاتلو لپـاره) امـن (او بـې خـوفي) ورکـړې ده.

---

(١) سورة قريش، الآيات: ٣-٤.

او ددي لپاره چې د ټولنې په چاپېريال کې امن و امان خوندي پاتې شي، نبي کريم صلی الله علیه وسلم د ټلنې هر اوکړي ته ويره ورکوي تر څو په نورو خلکو باندي د هغوې د ويره ولو په خاطر او په ټولنه کې د ويرې خپره ولو په خاطر وسله راپورته نه کړي، همدغه شان د مسلمانانو د بادشاه په خلاف بايد د عامو اوګړو د پارولو نه بايد ډه ډه اوکړي ځکه چې په دې سره امن و امان له مينځه ځي او د مسلمانانو ټولنې ته بيلابيل کړاونه راځي.

د نبي کريم صلی الله علیه وسلم په دې خبره کې چې:

«مَن حَمَلَ علينا السِّلاحَ فَلَيسَ مِنَّا»

**ژباړه:** هغه څوک چې په مونږ وسله را واړه وي زمونږ له ټولګي څخه نه دی.

دا ښکاره دليل دی چې ددي عمل تر سره کول د جرم او د نبي کريم صلی الله علیه وسلم د پيروۍ څخه سر غړونه او لويه ګناه ده.

# ۲۸

**د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ګټکیو د واره ولو څخه منع کړې ده ځکه چې په دې سره نه ښکار کیږي، او نه دشمن ته څه زیان اړه وي بلکه غاښونه ماتوي او سترګې بوټي اوباسي.**

## تشریح:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم خورا په ډیر حرص سره کوشش او زیار کړی دی تر څو خلکو ته د هغه څه په هکله زده کړه او ښوونه ورکړي کوم چې د هغوي لپاره په دین دنیا او اخرت کې ګټور تمام شي، په همدې خاطر الله پاک د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ستاینه کړې ده: د الله پاک وینا ده:

﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾﴾(۱)

ژباړه: یقیناً یقیناً تاسو ته له هم ستاسو له جنسه نه رسول راغلی دی، هغه څه چې تاسو په تکلیف کې اچوي؛ پر ده ډیر سخت (او درانه) دي، ستاسو (د هدایت) لپاره پر تاسو باندې ډیر حرصناك دی،

(۱) سورة التوبة، الآیة: ۱۲۸.

په مومنانو باندې ډېر نرمي کوونکی، ډېر مهربان دی.

د الله پاک وینا ده:

﴿لَقَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ بَعَثَ فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبۡلُ لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ١٦٤﴾[٢].

ژباړه: خامخا په رښتیا سره الله په مومنانو باندې احسان کړی دی کله چې یې دوی ته د همدوی له نفسونو (جنس) څخه یو رسول راولیږه، چې دوی ته د هغه ایتونه تلاوت کوي او دوی پاکوي او دوی ته د کتاب او حکمت (سنت) تعلیم ورکوي او یقینًا دوی له دې نه مخکې په ښکاره ګمراهۍ کې وو.

په دې مبارک حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دیو بد کار څخه منع کړې ده کوم چې به د جاهلیت په زمانه کې تر سره کیدلو: هغه د ګټکیو ویشتل و نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغې منع اوکړه او د هغې سبب یې هم بیان کړ هغه داچې: د ګټکیو په ویشتلو کې هیڅ ډول ګټه شتون نلري نه وربانديښکار کیږي او نه دښمن ته زیان رسولی شي بلکه غاښونه وربانديماتیږي او سترګي وربانديراوځي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا منع عامه ده ټولو خلکو ته لوې دي که واړه شامله ده مګر ورو ماشومانو ته د دې وصیت ډېر کول پکار دي ځکه چې دا لوبه اکثر د ماشومانو تر مینځ کیږي.

(٢) سورة آل عمران، الآية: ١٦٤.

## ۲۹

**د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي:**

**ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم لس کاله خدمت اوکړ، ماته یې اف کلمه هم نه ده ویلې.**

## تشریح:

کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت اوکړ، د انس بن مالک رضي الله عنه مور ورته انس بن مالک رضي الله عنه راوستلو عمر یې لس کاله و، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یې وویل: ای د الله پاک پیغمبره! دا زما ځوې انس دی ستا د خدمت لپاره مې راوستلو، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته ښه راغلاست وویل: د همدغه ورځې څخه انس بن مالک رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کولو پیل اوکړ د هغه کارونه او اړتیاوې به یې پوره کولې همیشه به د نبي کریم صلی الله علیه وسم سره ملګری و، او ډیری وخت به یې د هغه خدمت کولو.

په دې مبارک حديث کې مونږ ته انس بن مالک رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ښو اخلاقو بيان کوي وايي: لس کاله مې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم خدمت اوکړو خو په دې لسو کلونو کې ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د خولې څخه د افف کلمه هم نه ده ويلې دا حديث د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د لوړو او ښايسته اخلاقو ښکارندوينه کوي نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د خپلو ټولو ملګرو سره د ښو او لوړو اخلاقو چلند کولو ددې مبارک حديث نه مونږ دا ګټه اخستلى شو چې مونږ بايد هم د خپلو ملګرو، کارګرو او خادمانو سره د ښو اخلاقو چلند اوکړو ځکه هغوې هم زمونږ په څير نساناں دي مونږ يې بايد عزت او احترام اوکړو او د هغوې حقوق ادا کړو.

## ۳۰

**د ابـو هريـره رضي الله عنـه څخـه روايـت دی، هغـه وايـې: نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـي دي: پـه تاسـې کـې چـې يـو څـوک د خپـل ځـای څخـه پاڅـي او بيـا بيرتـه هغـه ځـای تـه راشي نـو د هغـه د خپـل ځـای ډيـر حقـدار دی.**

### تشريح:

زمونـږ د اسـلام مبـارک ديـن بشـپړ، کامـل او پـوره دی هـره کوچنـی او لويـه هغـه خـبره چـې مونـږ تـه د دنيـا او اخـرت پـه برخـه کـې ګټـه رسـوي بيـان کـړې او تشريـح کـړې ده پـه دې مبـارک حديـث کـې نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم مونـږ تـه د ناسـتې اړونـد د يـو ادب لارښـونه کـوي هغـه ادب دادی چـې کلـه يـو څـوک پـه ناسـته کـې د خپـل ځـای څخـه پاڅيـږي او بيـا بيرتـه هغـه خپـل ځـای تـه راشي نـو همدغـه سـړی د خپـل ځـای ډيـر حقـدار دی او د بـل چـا لپـاره شرعي جـواز نشـته چـې د هغـه نـه د هغـه ځـای ونيـسي بيلکـه هغـه تـه بـه خپـل ځـای پريـږدي.

دا شرعي حکـم ټولـو ځايونـو تـه شـامل دی کـه هغـه ځـای د ناسـتې پـه مسـجد کـې وي يـا د علـم د زده کـړې لپـاره پـه مدرسـه کـې د ناسـتې ځـای وي پـه دې ټولـو کـې هغـه څـوک ددې ځـای حقـدار وي چـې

څوک وربانـدي د لمـړي ځـل لپـاره ناسـت وي  کـه چیرتـه هغـه د خپـل ځـای څخـه پاڅیـږي او بیـا بیرتـه خپـل ځـای تـه راشي نـو همدغـه يـې حقـدار دی مګـر کـه ډیـر وخـت بعـد راشي نـو بیـا يـې حقـدار نـه دی ددې مثـال لکـه یوڅـوک د خپـل ځـای نـه ماسپښـین پاڅیـږي چیرتـه لاړ شي او بیـا هغـه ځـای تـه د مازدیګـر یـا ماښـآم یـا سـبا تـه راشي نـو بیـا د هغـه  ځـای حقـدار نـه دی ځکـه چې ډیـر وخـت يـې بـل ځـای تـیر کـړی دی.

**پاملرنـه:** ناسـتې د ځـای پـه سر د هلکانـو تـر مینـځ ډیـر جنـګ جګـړه راځـي پـه کورونـو کـې یـا د علـم د زده کـړې لپـاره پـه مدرسـو وغـیره کـې  کـه چیرتـه مونـږ شرعي ادابـو  تـه پاملرنـه اوکـړي او پـه هغـې عمـل اوکـړو نـو جنـګ جګـړې بـه پـاي تـه ورسـیږي او زمونـږ ترمینـځ بـه مینـه او محبـت پیـدا شي.

## ۳۱

د ابـو هريـره رضي الله عنـه څخـه روايـت دی، هغـه وايـې: نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم ويلـي دي: د يـو مسـلمان پـه بـل مسـلمان بانـدي شـپږ حقونـه دي: کلـه چـې ورسره مخامـخ شي نـو سـلام واچـوي، او کلـه چـې ورتـه بلنـه ورکـړي بايـد قبـوله کـړي، کـه چـې ورنـه مشـوره وغـواړي بايـد خـير خـواهي اوکـړي او کلـه چـې پرنـجی اوکـړي بايـد ځـواب يـې ورکـړي، او کلـه چـې مريـض شي بايـد د روغ رنځـور پوښـتنه يـې اوکـړي، او کلـه چـې مـړ شي بايـد جنـازه يـې او کـړي او دفـن يـې کـړي.

### تشريح:

د يـو مسـلمان پـه بـل مسـلمان بانـدي ډيـر حقونـه دي، چـې يـو څـو اړيـن حقونـه يـې پـه دي مبـارک حديـث کـې بيـان شـوي دي:

لمـړی حـق: سـلام اچـول کلـه چـې تـه د خپـل مسـلمان وروور سره مخامـخ شي بايـد سـلام واچـوي او کـه هغـه درتـه سـلام اوکـړي بايـد تـه د سـلام ځـواب ورکـړئ.

دوهـم حـق: کلـه چ تاتـه بلنـه درکـړي بايـد د هغـه بلنـه اومـني خاصکـر د واده بلنـه تـه يـې خامخـا ورشي.

دريـم حـق: کلـه چـې درنـه يـوه مشـوره اوغـواړي بايـد د هغـه خـير خواهـی اوکـړئ.

**شلورم حق:** کله چې هغه پرنجی اوکړي او ( الحمد لله ) وايي: بايد د پرنجي ځواب په ( يرحمُك اللّهُ) سره ورکړئ او هغه بيا بيرته بايد ورته (يَهدِيكُم الله ويُصلِح بالَكم) ووايي.

**پنځم حق:** د روغ رنځور پوښتنه کول، کله چې يو مسلمان مريض شي په بل مسلمان باندي د هغه پوښتنه کول حق دی ځکه چې مريض د هغه په ليدلو سره خوشحاليږي او زړه ته يې سکون راځي او د الله پاک لخوانه نه د اجر او ثواب څخه برخمن کيږي.

**شپږم حق:** د مسلمان جنازه کول او د دفن کولو په خاطر يې قبرستان ته ورتلل په دې کې ډير لوی خير دی د مړي لپاره د ژوندو دعاګاني او د ژوندو لپاره د الله پاک لخوانه اجرونه او ثوابونه تر لاسه کيږي.

# ۳۲

**د ابـو سـعيد خـدري رضي الله عنـه څخـه روايـت دی هغـه وايـې:** نـبي كريـم صلى الله عليـه وسلم ويلـي دي: لارې تـه خپـل حـق وركـړئ، ملګـرو يـې پوښـتنه اوكـړه چـې د لارې حـق څـه دی؟ نـبي كريـم صلى الله عليـه وسـلم وويـل: ښـكته كتـل، او چاتـه ضرر نـه وركـول، او د سـلام ځـواب وركـول، د نيكـۍ حكـم كـول او د بـدۍ څخـه خلـک منـع كـول.

## تشريح:

د نـبي كريـم صلى الله عليـه وسـلم پـه زمانـه كـې خلـک د لارو كوڅـو پـه سر كـې كيناسـتل، خـبرې اتـرې بـه يـې كولـې، نـبي كريـم صلى الله عليـه وسـلم ورتـه وويـل: تاسـې پـه لارو كوڅـو كـې مـه كينـئ! هغـوې ورتـه وويـل: ای د الله پـاک پيغمـبره! مونـږ ارتيـا لـرو تـر څـو خپلـې ناسـتې اوكـړو! نـبي كريـم صلى الله عليـه وسـلم ورتـه وويـل: بيـا نـو د لارو حـق ادا كـړئ! هغـوې ورتـه وويـل: د لارو څـه دی؟ نـبي كريـم صلى الله عليـه وسـلم ورتـه د لارې څلـور حقونـه بيـان كـړل:

**لمړی حق:** خپـل نظرونـه ښـكته سـاتی، هغـه څـوک چـې د لارې پـه سر ناسـت وي او كـوم يـو كـور بيرتـه ووينـي نـو بايـد چـې هغـه ګورتـه ونـه ګوري بلكـه خپـل نظـر ښـكته كـړي، د الله پـاک وينـا ده: ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَـٰرِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا يَصْنَعُونَ ۝٣٠﴾[1].

**ژباړه:** تـه مومنانـو تـه ووايـه چـې خپلـې سـتركې دې (له نامحرمـو نـه) ټيټـې سـاتي او د خپلـو فرجونـو (شرم ځايونـو) سـاتنه دې كـوي، دا د دوی لپـاره ډيـر

(۱) سورة النور، الآية: ۳۰.

پاکیزه دي، بېشکه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې دوی يې کوي.

**دوهم حق:** هيچاته تکليف او ضرر نه رسول هغه دا چې لاره به نه تنګوي تر څو خلک وربانديې په اسانه تګ راتګ او کړي، همدغه شان په لارو کوڅو کې خزلې ګندونه وغيره نه اچول تر څو خلکو ته تکليف ونه رسيږي.

**دريم حق:** د سلام ځواب ورکول، ځکه چې يو څوک روان وي بايد په ناستو خلکو سلام واچوي او هغوي يې بايد ځواب ورکړي د سلام اچول سنت او ځواب ورکول يې واجب دي، د الله پاک وينا ده: ﴿ وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا۟ بِأَحْسَنَ مِنْهَآ أَوْ رُدُّوهَآ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾ ﴾(٢).

**ژباړه:** او کله چې تاسو ته په سلام ويلو سره دعا وکړی شي، نو تاسو له هغې نه غوره جواب ورکړئ، يا همغه ور وګرځوئ بېشکه الله د هر شي ښه حساب کوونکی دی.

**څلورم حق:** په د نيکۍ حکم کول او د بدۍ نه منع کول، د الله پاک وينا ده: ﴿ وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾ ﴾(٣).

**ژباړه:** او مومن سړي او مومنې ښځې، د دوی ځينې د ځينو نورو دوستان دي، دوی د نيکۍ حکم کوي او له بدۍ نه منع کوي او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي، دغه کسان (چې دي) ضرور به الله پر دوی رحم وکړي، بېشکه الله ډېر غالب، ښه حکمت والا دی.

---

(٢) سورة النساء: الآية ٨٦

(٣) سورة التوبة، الآية: ٧١.

# ۳۳

**د عبـد الله بـن عمـر رضي الله عنهمـا څخـه روايـت دی هغـه وايـې:** نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـې دي:د يـو مسـلمان لپـاره هيـڅ مناسـب نـه ده چې دوه شـپې تـيرې کـړې مګـر خپلـه ليـکل شـوې وصـين نامـه بايـد ورسره وي.


## تشريح:

دا حديـث د وصيـت پـه ليکلـو بانـدي دليـل دی هغـه څـوک چـې هغـه بانـدي قرضـه وي يـا يـې وربانـدي واجـب زکات وي يـا ورسره د يـو چـا امانـت وغـيره وي نـو پـه هغـه بانـدي وصيـت ليـکل واجـب دي، او کـه چيرتـه وربانـدي واجـب حـق نـه وي نـو پـه هغـه بانـدي وصيـت ليـکل واجـب نـه دی مګـر غـوره دي، لکـه چـې يـو څـوک وصيـت وليکـې چـې زمـا د مـال دريمـه يـه ددينـه هـم کمـه برخـه پـه نيکـو کارونـو کـې بايـد خـرڅ کـړل شي.

**پامرنـه:** وصيـت د لـږ مـال لپـاره هـم اړيـن دی لکـه يوڅـوک د بـل چانـه قـرض واخـلي اګـر ډيـر کـم او لـږ وي يـا يـو سـامان د چـا نـه واخـلي پـه دې شرط چـې قيمـت بـه يـې لـږ ورځـې روسـتو درکـوم اګـر

کــه ډیــر لــږ او کــم قیمــت والا ســامان وي بایــد پــه اړه یــې وصیــت ولیــکي.

**پاملرنــه:** د وصیــت لیکلــو لپــاره کــوم خــاص لفظونــه شــتون نلــري بلکــه وصیــت کوونکــي بــه پــه واضحــه طریقــه چــې عام خلــک وربانــدي پوهیــږي خپــل وصیــت ولیــکي کــه هغــه لیــکل پــه پاڼــه بانــدي وي یــا بریښــنایي لیــک بانــدي وي یــا ټلیفــوني پیغــام بانــدي وي یــا یــې د خــبرو پــه بڼــه خپــل وصیــت یــو چاتــه ویــلی وي دا ټــول د وصیــت پــه معنــا کــې راځــي.



# ۳٤

**د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایي:** نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: الله پاک تاسي په پلرونو باندي د قسم کولو څخه منع کړي یاست، که یو څوک قسم کي باید د الله پاک په ذات قسم اوکړي او کنه نو باید چپ پاتي شي.

## تشریح:

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ملګرو د اسلام په پیل کي د جاهلیت د زماني قسمونه په خپلو پلارانو، په شرافت، او په امانت وغیره باندي کولو، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم هغوي له دي کار څخه منع کړل، عمر رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا خبره اوریدلي وه نو سمدست یي د هغه خبره اومنله او بیا یي په خپله ژبه باندي د غیر الله قسم نه دی کړی، عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وایي: عمر رضي الله عنه وویل: په الله پاک لوړه کوم چي کله ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا خبره واوریدله نو د هغه نه را په دیخوا ما هیڅکله په غیر الله قسم نه دی کړی. او همدا د هر مسلمان وجیبه ده چي کله د الله پاک حکم واوري باید سمدست یي پرته د تاخیراو شک څخه عملي کړي. په دي زمانه کي په غیر الله باندي د قسم کولو ډولونه لکه ځیني خلک

وایي: ستا په ژوند مي دې قسم وي، یا داسې وایي: چې په نبي زما قسم یا وایي په کعبه زما قسم وغیره، دا ټول حرام او د الله پاک سره شریک جوړه ول دي.

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما د یو سړي نه واوریدل چې هغه په کعبه باندي قسم اوکړ! عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ورته وویل: په پرته د الله پاک د ذات نه په بل چا قسم مه کوه، ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي هغه ویل:

«مَن حَلَفَ بِغَيرِ اللهِ فقد كفَرَ أَو أَشْرَكَ». رواه أحمد وأبو داود والترمذي ((1))

ژباړه: چاچې د الله پاک د ذات نه پرته په بل چا قسم اوکړ نو هغه بیله شکه کفر او شرک اوکړ.

(١) أخرجه أحمد (١٠/٢٤٩) برقم (٦٠٧٢)؛ وأبو داود في كتاب الأيمان والنذور، باب في كراهية الحلف بالآباء، برقم (٣٢٥١)؛ والترمذي في أبواب النذور والأيمان، باب ما جاء في كراهية الحلف بغير الله، برقم (١٥٣٥)، وقال: حديث حسن؛ وصححه الألباني في «إرواء الغليل» (٨/١٨٩) برقم (٢٥٦١).

# ۳۵

**د ابــو هريــره رضي الله عنــه څخــه روايــت دی، هغــه وايــې:** **نــبي کريــم صــلی الله عليــه وســلم هيڅکلــه د يــو خــوراک عيــب نــه دی ويــلی، کــه خــوښ شــوی خــوړلی دی او کــه خــوښ شــوی يــې نــه دی پريښــی يــې دی.**

## تشريح:

نــبي کريــم صــلی الله عليــه وســلم د ډيــرو ښــو اخلاقــو څښــتن و، هميشــه بــې ښــې خــبرې اتــرې خوښــيدلې او بــدې اخــبرې اتــرې بــه يــې نــه خوښــولې.

پــه دې مبــارک حديــث کــې د نــبي کريــم صــلی الله عليــه وســلم يــو ښــه خــوې او اخــلاق هغــه دادی چــې کلــه بــه هغــه تــه يــو خــورک کيښــودل شــو، نــو هغــه بــه يــې هيڅکلــه عيــب او بــد نــه ويلــو، داســې بــه يــې نــه ويــل: چــې دا خــوراک خــو يــخ دی يــا پــوخ نــه دی يــا ښــه نــه دی يــا يــې مالګــه کمــه ده يــا ډيــره ده وغيــره وغــيره داســې هيڅکلــه نــه ويــل: بلکــه د هغــه عادت داو: کــه خــوراک بــه يــې خــوښ شــو نــو هغــه بــه يــې وخوړلــو او کــه بــه يــې خــوښ نــه شــو نــو هغــه بــه يــې پريښــودولو مګــر دهغــې عيــب او بــد بــه يــې نــه ويلــو.

مونږ باید هم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ښو اخلاقو پیروي اوکړو هیڅکله د یو خوراک عیب او بد و نه وایو، بلکه د الله پاک ستاینه اوکړو او د هغه شکر ادا کړو همیشه ښې خبرې اترې اوکړو.



# ٣٦

د بـراء بـن عازب رضي الله عنـه څخـه روايـت دى هغـه وايـې:

نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم پـه ټولـو خلکـو کـې ډېـر ښايسـته او د ښـو اخلاقـو څښـتن و، پـه ونـه نـه ډېـر اوږد او نـه د ډيـر لنـډ و.

## تشريح:

نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم پـه ټولـو خلکـو کـې د ډېـرو ښـو اخلاقـو څښـتن و، پـه همـدې هکلـه د الله پـاک وينـا ده: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝٤﴾(١).

ژباړه: او بېشکه چې ته يقينًا په ډېرو لويو اخلاقو باندې (فايز) يې.

د ښـو اخلاقـو سره بـيره د ډيـرې ښـکلا خاونـدو، پـه همـدې هکلـه بـراء بـن عازب رضي الله عنـه وايـې: نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم پـه ټولـو خلکـو کـې ډيـر ښايسـته او د ښـو اخلاقـو څښـتن و پـه ونـه نـه ډيـر اوږد او نـه د ډيـر لنـډ و، پـه يـو بـل روايـت کـې بـراء بـن عازب رضي الله عنـه وايـې: (كان صلى الله عليـه وسـلم مربـوعًا، بعيـدَ مـا بـين المَنكِبَـين، له شـعرٌ يبلـغ شَـحمةَ أُذنَيْـهِ، رأيتُـه في حُلَّـةٍ حمـراءَ، لـم أَرَ شـيئًا أحسـنَ منـه) (2).

---

(١) سورة القلم، الآية: ٤.

(٢) أخرجـه البخـاري فـي كتـاب المناقـب، بـاب صفـة النبـي صلـى الله عليـه وسـلم، برقـم (٣٥٥١)؛ ومسـلمٌ فـي كتـاب الفضائـل، برقـم (٢٣٣٧/ ٩١).

**ژباړه:** د نبي کريم صلى الله عليه وسلم غونډه منډه ونه وه او د دواړو اوږو تر مينځ يې د قدر وړ پراخي وه د سر مبارک ويښتان يې د غوږونو تر نرمو رسيدل په سره چوغه کې مي وليد د ښاېست يې هيڅ سيال نه و.

امام بخاري او مسلم د انس رضي الله عنه روايت نقل کړى دى هغه وايې: **(كان رسولُ اللّهِ صلى الله عليه وسلم أَزْهَرَ اللونِ)** ((3)).

**ژباړه:** نبي کريم صلى الله عليه وسلم ګلابي رنګ چې سپين رنګ يې د سور رنګ سره ګډون لرولو.

ابو هريره رضي الله عنه وايي: **(كان رسول الله صلى الله عليه وسلم أبيضَ كأنّما صِيْغَ مِنْ فِضَّةٍ)** ((4)).

**ژباړه:** نبي کريم صلى الله عليه وسلم سپين رنګ و لکه د سپينو زرو جوړ.

جابر بن سمره رضي الله عنه وايي: **(رأيتُ رسولَ اللّهِ صلى الله عليه وسلم في ليلةٍ إِضْحِيَانٍ -يعني في ليلةٍ مُقمِرَةٍ مضيئة- فجعلتُ أنظر إليه وإلى القمر، فَلَهُو عندي أحسنُ من القمر)** ((5)).

**ژباړه:** ما نبي کريم صلى الله عليه وسلم د سپوږمۍ په رڼا کې د شپې وليد، بيا مي سپوږمۍ ته وکتل نبي کريم صلى الله عليه وسلم راته د سپوږمۍ څخه ډير ښکلى ښکاره شو.

---

(٣) أخرجه البخاري في كتاب المناقب، باب صفة النبي صلى الله عليه وسلم، برقم (٣٥٤٧)؛ ومسلمٌ في كتاب الفضائل، برقم (٢٣٣٠).

(٤) أخرجه الترمذي في «الشمائل المحمدية» برقم (١٢)، وصححه الألباني في «الصحيحة» برقم (٢٠٥٣).

(٥) أخرجه الترمذي في كتاب الأدب، باب ما جاء في الرخصة في لبس الحمرة للرجال، برقم (٣٠٤١)، وقال: هذا حديث حسن غريب، وصحّحه الألباني في مختصر الشمائل ص ٨.

## ۳۷

**د عمـرو بـن عاص رضي الله عنـه څخـه روايـت دی هغـه وايـې:**

**مـا دنبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم څخـه پوښـتنه اوکـړه چـې څـوک درتـه ډيـر خـوښ دی؟ هغـه راتـه وويـل: عائشـه رضي الله عنها مـا ورتـه وويـل: پـه سـړيو کـې؟ هغـه راتـه وويـل: د عائشـې پـلار رضي الله عنهمـا، مـا ورتـه وويـل: بيـا څـوک؟ هغـه راتـه وويـل: بيـا عمـر بـن خطـاب رضي الله عنـه.**

### تشريح:

د نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ملګـری عمـرو بـن عاص رضي الله عنـه د لـوړ مقـام او شـان صحـابي دی، پـه دې مبـارک حديـث کـې هغـه مونـږ تـه وايـې: چـې مـا د نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم څخـه پوښـتنه اوکـړه چـې څـوک درتـه ډيـر خـوښ دی؟ هغـه راتـه وويـل چـې عائشـه رضي الله عنهـا مـا ورتـه وويـل: پـه سـړيو کـې؟ هغـه راتـه وويـل: د عائشـې پـلار رضي الله عنهمـا، مـا ورتـه وويـل: بيـا څـوک؟ هغـه راتـه وويـل: بيـا عمـر بـن خطـاب رضي الله عنـه.

پـه دې مبـارک حديـث کـې د عائشـې او ابـو بکـر او عمـر رضي الله عنهـم ډيـر لـوی او ځانګـړی فضيلـت او غـوره والی بيـان شـوی دی هغـه دا چـې دوی ټـول نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم تـه ډيـر خـوښ او محبـوب وو.

**پاملرنه**: د اهل سنت والجماعت عقیده داده چې په ټولو صحابه کرامو کې غوره څلور کسان دی او د هغوی غوره والی د هغوی د خلافت په څیر دی معنا داده چې تر ټولو غوره ابو بکر صدیق، بیا عمر فاروق، بیا عثمان او بیا علي رضي الله عنهم دی.

دوي د محمد صلی الله علیه وسلم په امت کې تر ټولو غوره دي، او زمونږ دیني وجیبه د ټولو صحابه کرامو په هکله هغه داده چې مونږ باید د ټولو سره مینه او محبت اوکړو او د هغوي احترام، قدر او عزت اوکړو الله پاک دې د هغوي ټولو څخه راضي شي.

# ۳۸

**انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي:**
**نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دا دعا ډیره غوښتله: «اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنيا حَسَنَةً وفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عذابَ النَّارِ».**

## تشریح:

دعا غوښتل په نیک عملونو کې تر ټولو لوی نیک عمل دی او د بنده په زړه کې د الله پاک د عظمت لوی او توحید ښکارندوینه کوي او د الله پاک د مهربانۍ، ښښنې خوښۍ، مینې، قبولیت او د ورکړې سبب ګرځي، بیله شکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم به ډیرې دعاګاني غوښتلې چې د حدیث په کتابونو کې لکه صحاح سته صحیح بخاري او مسلم سنن ترمذی، سنن ابو داود، سنن ابن ماجه وغیره کې نقل شوې دي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دعاګانو له جملې څخه یوه غوره داده:

**«اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنيا حَسَنَةً وفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عذابَ النَّارِ».**

**ژباړه:** ای زما پروردګاره ماته په دنیا او آخرت کې خیرونه را کړې او د دوزخ د اور نه راته خلاصون را کړې.

دا دعا ځکـه لويـه او عظيمـه دعا ده چې پـه دې کـې د دنيـا او آخـرت ټـول خيرونـه راجمـع شـوې دي.

شـيخ عبـد الرحمـن سـعدي رحمـه االله ويلـې دي: پـه دنيـا کـې حسـنه معنـا هـر هغـه ښـه او ګټـور ځيزونـه تـر لاسـه کـول کـوم چـې د يـو انسـان لپـاره اړيـن وي لکـه خـوړ او پراخـه رزق، ګټـوره ښـځه، نيـکان بچـي، د زړه سـکون او خوشـحالي، ګټـور علـم، نيـک عمـل وغـيره.

او د آخـرت حسـنه معنـا داده: چـې د قـبر او آخـرت د کړاونـو څخـه خلاصـون تـر لاسـه کـول او د الله پـاک رضـا حاصلـول او د جنـت هميشـه نعمتونـو تـه ځـان رسـول او خپـل پـروردګار تـه قربـت حاصلـول.

او دا ټـول نعمتونـه پـه دې دعا کـې راجمـع شـوي دي پـه همـدې خاطـر بـه نـبي کريـم صـلى الله عليـه وسـلم دا دعا ډيـره غوښـتله.

## ۳۹

د ابـو هريـره رضي الله عنـه څخـه روايـت دی، هغـه وايـې: نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم ويلـي دي: کلـه چـې يـو انسـان مـړ شي دهغـه ټـول عملونـه پـرې او بنـد شي مګـر درې عملونـه يـې نـه پـرې کيـږي يـو جـاري صدقـه او خـيرات، بـل ګټـور علـم، او بـل نيـک بچـي چـې د هغـه لپـاره دعاګاني غـواړي.

### تشريح:

الله پـاک خپلـو بندګانـو تـه د نيـک عملونـو تـر سره کولـو حکـم کـړی دی تـر څـو خپـل پـروردګار تـه نيـږدې شي د هغـه رحمتونـه او مهربـاني تـر لاسـه کـړي او د هغـه د قهـر او عذابونـه څخـه خلاصـون اومـومي.

پـه دې مبـارک حديـث کـې مونـږ تـه نـبي کريـم صـلی الله عليـه وسـلم دا خـبرداری راکـړی دی چـې هـر کلـه يـو څـوک مـړ شي د هغه ټـول پـرې او بنـد شي مګـر درې عملونـه يـې داسـې دي چـې هغـه نـه بنديـږي بلکـه د مـرګ څخـه بعـد ورتـه د هغـې اجـر او ثـواب رسـيږي:

**لـمړی عمـل:** جـاري صدقـه او خـيرات کـول، لکـه يـو څـاه کښنسـتل نـو هـر څـوک چـې ددې څـاه نـه ګټـه تـر لاسـه کـوي اجـر او ثـواب بـه ددې څـاه کښنسـتونکي تـه رسـيږي او هغـه بـه پـه قـبر کـې پـروت وي.

همدغه شان مسجدونه، شفاخاني، مدرسې جوړه ول قرآن کريم چهاپ کول او د هغې تقسيمول و غيره.

**دوهم عمل:** ګټور علم چې نور خلک ترينه ګټه پورته کړي، هغه څوک چې يو قوم ته د سمې لارې ښوونه اوکړي يا يو ګټور کتاب اوليکي، يا د هغې په چهاپ کولو او تقسيمولو کې برخه واخلي نو ددې عمل اجر او ثواب به هغه ته د مرګ څخه بعد هم رسيږي.

**دريم عمل:** نيک بچي نارينه وي که ښځينه وي کله چې يو څوک د خپلو بچو سمه پالنه اوکړي يا يوه ښځه خپل بچي سم اوپالي نو د هغه بچو هر نيک کې د مور او پلار برخه وي همدغه شان نيک بچي مور او پلار ته دعاګاني هم کوي چې اجر او ثواب يې د هغوې مور او پلار ته رسيږي.



## ۴۰

**د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روایت دی، هغه وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي دي: هر بنده به د قیامت ورځ په هغه حالت راپاڅیږي په کوم حالت چې مړ شوی و.**

### تشریح:

دا مبارک حدیث د ښې خاتمې په هکله مونږ ته لار ښوونه کوي ښه خاتمه دا هغه لویه خبره ده چې د صحابه کرامو نه واخله د هرې زماني د نیکانو بندګانو ورته ډیره پاملرنه ده.

د ښې خاتمې معنا داده چې یو بنده په ښه حالت د ایمان او نیک عمل سره ددې فاني دنیاګۍ څخه خپلې سترګې پټې کړي او د ایمان په حالت کې د خپل پروردګار سره مخامخ شي.

په دې مبارک حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ دا لار ښوونه کوي چې هر بنده به د قیامت ورځ په هغه حالت راپاڅیږي په کوم حالت چې مړ شوی و: که یو څوک د حج او عمرې په حالت مړ شوی وي هغه به د احرام په حالت کې راپاڅیږي او که یو څوک چې د الله پاک د ذکر او یاد په حالت

کـې مـړ شـوی وي نـو هغـه بـه د الله پـاک د ذکـر کولـو پـه حالـت کـې راپاڅيـږي او کـه يـو څـوک الله پـاک مـه کـړه د ګنـاه پـه حالـت کـې مـړ شـوی وي نـو هغـه بـه د ګنـاه پـه حالـت کـې راپاڅيـږي، پـه همـدې خاطـر پـه مونـږ واجـب دي چـې د نيـک عملونـو کوشـش اوکـړي او د بـدو عملونـو څخـه ډه ډه اوکـړو خپـل وختونـه د الله پـآک پـه ذکـر او بندګـۍ کـې تـير کـړو تـر څـو اخـره خاتمـه مـو ښـه شي او د قيامـت پـه ورځ د الله پـاک د مهربانـۍ جوګـه شـو.

١. عن عبدِ اللهِ بنِ عُمَرَ بنِ الخطَّابِ ﵄ قال: قال رسول الله ﷺ: «**بُني الإسلامُ على خمسٍ: شهادةِ أن لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وأنَّ محمَّدًا رسولُ الله، وإقامِ الصلاةِ، وإيتاءِ الزَّكاةِ، والحجِّ، وصومِ رمضانَ**». متفق عليه

٢. عن أنسِ بن مالكٍ ﵁ قال: سُئِل النبيُّ ﷺ عن الكبائر، فقال: «**الإِشْرَاكُ باللهِ، وعُقُوقُ الوالِدَينِ، وقتلُ النَّفْسِ، وشهادةُ الزُّورِ**». متفق عليه

٣. عن عبد الله بن عمرو ﵄ قال: قال رسول الله ﷺ: «**المُسلِمُ: مَن سَلِمَ المُسْلِمونَ مِن لسانِه ويَدِه**». متفق عليه

٤. عن أبي هريرة ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ: «**آيةُ المُنافقِ ثلاثٌ: إذا حدَّثَ كَذَبَ، وإذا وعَدَ أَخْلَفَ، وإذا اؤْتُمِنَ خانَ**». متفق عليه

٥. عن جابر بن عبد الله ﵄، قال: قال رسول الله ﷺ: «**بين الرجُلِ وبين الشِّركِ والكفرِ تَرْكُ الصَّلاةِ**». رواه مسلم

٦. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: «**المؤمنُ القويُّ خيرٌ وأحبُّ إلى الله من المؤمنِ الضعيف، وفي كُلٍّ خير**». رواه مسلم

٧. عن عثمانَ بنِ عفَّانَ ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: «**من توضَّأَ لِلصَّلاةِ فأَسْبَغَ الوُضوءَ، ثُمَّ مشى إلى الصَّلاةِ المكتُوبةِ فصَلَّاها مع الجماعةِ، غفرَ اللهُ له ذنوبَه**». رواه مسلم

٨. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«من كذَبَ عليَّ مُتعمِّدًا فلْيَتبَوَّأْ مقعَدَهُ من النَّار»**. متفق عليه

٩. عن عبد الله بن مسعود ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«لا يدخلُ الجنَّةَ مَن كان في قلبِه مِثقالُ ذَرَّةٍ مِن كِبْرٍ»**. رواه مسلم

١٠. عن عثمانَ بنِ عفَّانَ رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: **«خيرُكم مَن تعلَّمَ القُرْآنَ وعلَّمَه»**. رواه البخاري

١١. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«كلمتانِ خفيفتانِ على اللسان، ثقيلتانِ في الميزان، حبيبتانِ إلى الرحمن: سبحانَ اللهِ وبِحَمْدِه، سبحانَ اللهِ العظيم»**. متفق عليه

١٢. عن أبي هريرة ﵁، قال: **«أَوصاني خليلي ﷺ بثلاثٍ: صيامِ ثلاثة أيَّامٍ مِن كُلِّ شَهرٍ، وَرَكْعتي الضُّحَى، وأَن أُوتِرَ قبل أن أنام»**. متفق عليه

١٣. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«أَقرَبُ ما يكونُ العبدُ مِن ربِّه وهو ساجِدٌ، فأَكْثِرُوا الدُّعاءَ»**. رواه مسلم

١٤. عن ثابت بن الضَّحَّاكِ ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«لَعْنُ المُؤْمِنِ كَقَتْلِه»**. متَّفقٌ عليه

١٥. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«قال اللهُ تبارك وتعالَى: يا ابْنَ آدمَ، أَنْفِقْ أُنْفِقْ عليك»**. متفق عليه

١٦. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«ما يُصيبُ المُسلِمَ مِن نَصَبٍ ولا وَصَبٍ، وَلا هَمٍّ وَلَا حَزَنٍ، ولا أَذًى ولا غَمٍّ، حتَّى الشَّوْكَة يُشاكُها، إلَّا كَفَّرَ اللهُ بها مِن خَطاياه»**. متفق عليه

١٧. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«لا تَدخلُونَ الجنَّةَ حتى تُؤْمِنُوا، ولا تُؤمِنُوا حتَّى تَحَابُّوا، أَوَلا أَدُلُّكُم على شَيءٍ إذا فَعَلتُمُوهُ تَحابَبْتُم؟ أفْشُوا السَّلامَ بينكم»**. رواه مسلم

١٨. عن أبي سعيدٍ الخُدْري ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«لا يَنظُرُ الرَّجلُ إلى عَورَةِ الرَّجُلِ، ولا المَرأَةُ إلى عَورَةِ المَرأَة»**. رواه مسلم

١٩. عن الصَّعْبِ بنِ جَثَّامَةَ ﵁: أنه أَهْدَى إلى رسول الله ﷺ صيدًا، فردَّه النبي ﷺ عليه ولم يَقْبَلْه منه، فلمَّا رأى النبيُّ ﷺ ما في وجهه من الحُزْن، قال: **«إنَّا لم نَرُدَّهُ عليك إلَّا أنَّا حُرُمٌ»**. متفق عليه

٢٠. عن حذيفة بن اليَمَانِ ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«لا يدخلُ الجنَّةَ قَتَّاتٌ»**. متفق عليه

٢١. عن أنس بن مالك ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: **«ما مِن مُسلِمٍ يَغرِسُ غَرْسًا، أو يَزْرَعُ زرعًا، فيأكل منه طيرٌ أو إنسانٌ أو بهيمةٌ، إلَّا كانَ له به صدقة»**. متفق عليه

٢٢. عن أبي هريرةَ ﵁، قال: كان لرجلٍ على رسول الله ﷺ دَيْن، فجاء يتقاضاه وأَغْلَظ، فَهَمَّ به أصحابُ النبيّ ﷺ: فقال النبيُّ ﷺ: «**دَعُوهُ؛ فإنَّ لِصاحبِ الحَقِّ مَقالًا**». متفق عليه

٢٣. عن أبي قتادةَ ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: «**مَن سَرَّهُ أن يُنْجِيَهُ اللهُ مِن كُرَبِ يومِ القيامة، فَلْيُنَفِّسْ عن مُعْسِرٍ، أو يَضَعْ عَنه**». رواه مسلم

٢٤. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: «**مَن غَشَّنا فلَيس مِنَّا**». رواه مسلم

٢٥. عن أبي أُمَامَةَ ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: «**من اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسلِمٍ بِيَمِينِه، فقد أَوجَبَ اللهُ له النَّارَ، وحَرَّمَ عليه الجَنَّة**»، فقال رجل: يا رسولَ الله، وإن كان شيئًا يسيرًا؟ قال: «**وإِنْ قَضِيبًا مِن أَرَاكٍ**». رواه مسلم

٢٦. عن أبي موسى الأشعريّ ﵁، أنَّ النبيَّ ﷺ بَعَثَهُ ومعاذًا إلى اليَمَن، وقال لهما: «**يَسِّرَا ولا تُعَسِّرَا، وبَشِّرَا ولا تُنَفِّرَا، وتَطَاوَعَا ولا تَختَلِفَا**». متفق عليه

٢٧. عن أبي موسى الأشعريّ ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: «**من حَمَلَ عَلَينا السِّلاحَ فَلَيسَ مِنَّا**». متفق عليه

٢٨. عن عبد الله بن مُغَفَّلٍ ﵁، أنَّ رسول الله ﷺ نَهَى عن الخَذْفِ، وقال: «**إنَّها لا تَصِيدُ صَيدًا، ولا تَنْكَأُ عَدُوًّا، ولكِنَّها تَكسِرُ السِّنَّ، وتَفْقَأُ العَيْنَ**». متفق عليه

٢٩. عن أنس بن مالك ﵁، قال: «**خَدَمْتُ النَّبِيَّ ﷺ عَشْرَ سِنِينَ، فما قال لِي أُفٍّ قَطُّ**». متفق عليه

٣٠. عن أبي هريرة ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: «**إذا قامَ أَحَدُكم مِن مَجْلِسِه ثُمَّ رجع إليه، فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ**». رواه مسلم

٣١. عن أبي هريرةَ ﵁، قال: قال رسول الله ﷺ: «**حقُّ المُسلمِ على المُسلم سِتٌّ: إذا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عليه، وإذا دعاك فأجِبْهُ، وإذا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ، وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتْهُ، وإذا مَرِضَ فعُدْهُ، وإذا مات فَاتْبَعْه**».

٣٢. عن أبي سعيد الخدري ﵁، قال: قال رسول الله : «**أَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ**»، قالوا: وما حقُّه؟ قال: «**غَضُّ البَصَرِ، وَكَفُّ الْأَذَى، ورَدُّ السَّلامِ، وَالأَمْرُ بِالمَعْرُوفِ وَالنَّهيُ عَنِ المُنكَرِ**». متفق عليه

٣٣. عن عبد الله بن عُمَرَ ﵄، قال: قال رسول الله ﷺ: «**ما حَقُّ امرِئٍ مُسلِمٍ لَهُ شَيءٌ يُوصِي فِيه، يَبِيتُ لَيلَتَينِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكتُوبَةٌ عِندَه**». متفق عليه

٣٤. عن عبد الله بن عُمَرَ ﵄، قال: قال رسول الله ﷺ: «**إنَّ اللهَ يَنهاكُم أَن تَحْلِفُوا بِآبَائِكُم، مَن كان حَالِفًا فَليَحْلِفْ بِاللهِ أَوْ لِيَصْمُتْ**». متّفقٌ عليه

٣٥. عن أبي هريرةَ ﵁ قال: «**مَا عَابَ النَّبِيُّ ﷺ طعامًا قَطُّ، إِنِ اشْتَهاهُ أَكَلَهُ، وَإِلَّا تَرَكَهُ**». متفق عليه

٣٦. عن البراء بن عازبٍ رضي الله عنه، قال: «**كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَحسَنَ النَّاسِ وَجْهًا، وَأَحْسَنَهُمْ خَلْقًا، لَيسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ، وَلَا بِالْقَصِيرِ**». متفق عليه

٣٧. عن عَمْرو بن العاص رضي الله عنه، قال: سألتُ النبيَّ ﷺ: أيُّ الناس أَحَبُّ إليك؟ قال: «**عَائِشَةُ**»، فقلتُ: مِنَ الرجال؟ قال: «**أَبُوهَا**»، قلت: ثُمَّ مَنْ؟ قال: «**ثُمَّ عُمَرُ بنُ الخطَّاب**». متفق عليه

٣٨. عن أنس بن مالكٍ رضي الله عنه، قال: كان أكثر دعاء النبيُّ ﷺ: «**اللَّهُمَّ آتِنَا في الدُّنيا حَسَنَةً وفي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عذابَ النَّارِ**». متفق عليه

٣٩. عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: «**إذا ماتَ الإنسانُ انقَطَعَ عَمَلُهُ إلَّا مِن ثلاثةٍ: إلَّا مِن صدقةٍ جاريةٍ، أو عِلمٍ يُنْتَفَعُ به، أو ولدٍ صالِحٍ يَدْعُو له**». رواه مسلم

٤٠. عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: «**يُبْعَثُ كُلُّ عَبدٍ على ما ماتَ عليه**». رواه مسلم

# د مضامينو نوم لړ

لمړی حدیث: اسلام پر( پنځو) بنستېونو جوړ شوی دی......

دوهم حديث: لوې ګناهونه............................

دريم حديث: كامل مسلمان ..............

څلورم حديث: د منافق نښې نښانې

پنځم حديث: د مؤمن او شرک تر مينځ توپير........

شپږم حديث: قوي او پیاوړی مؤمن .............

اووم حديث: د ځانځه لپاره بشپړ اودس كول......

اتم حديث په نبي كريم صلى الله عليه وسلم باندې دروغ ويل

نهم حديث:  لويې كوونكې به جنت ته داخل نه شي......

لسم حديث:  په تاسې كې غوره څوک هغه دی.........

يولسم حديث: دوه كلمې دي........

دولسم حديث: د نبي كريم صلى الله عليه وسلم وصيتونه..

ديارلسم حديث: يو بنده الله پاک ته ډير نيږدې وي.....

څوارلسم حديث: په يو مؤمن لعنت ويل د هغه قتل كول دي.

پنځلسم حدیث:  ای د آدم بچیه خرچه کوه....

شپاړلسم حدیث: یو ۀړمن نه سترې کیږي.....

اوولسم حدیث: تاسې تر هغه وخت جنت ته .........

اتلسم حدیث: یو سړی دې د بل سړي عورت ته .......

نورلسم حدیث: ځکه مې ستآ ډالۍ وا نه خسته .......

شلم حدیث: چغلخور به جنت ته .................................

یوویشتم حدیث: یو مسلما ن چې کله یوه ونه ناله کړي.....

دوویشتم حدیث: د حق خاوند باید خبرې اوکړي.......

درویشتم حدیث: که څوک د قیامت په ورځ .......................

څلیرویشتم حدیث: هغه څوک چې دوکه کوي.....................

پنځه ویشتم حدیث: هغه څوک چې د بل حق خوري...........

شپږویشتم حدیث: آساني کوي سختې مه کوي.................

اوویشتم حدیث: هغه څوک چې پر مونږ ............................

اته ویشتم حدیث: ګټکۍ مه ولۍ..................................

نهه ویشتم حدیث: لس کاله مې خدمت اوکړ.......................

دیرشتم حدیث: کله چې یو څوک د خپل .........................

یو دیرشتم حدیث: د یو مسلمان په بل مسلمان ..............

دوه دیرشتم حدیث: د لارو حق ادا کړئ...............................

درې دیرشتم حدیث: د یو مسلمان لپاره هیڅ مناسب نه ده ....

څلور دیرشتم حدیث: الله پاک تاسې منع کوي.................

پنځه دیرشتم حدیث: نبي کریم صلی الله علیه وسلم هیڅکله...

شپږ دیرشتم حدیث: نبي کریم صلی الله علیه وسلم ډیر ښکلی و

اووه دیرشتم حدیث: عائشه رضي الله عنها راته ډیره ګرانه ده...

اته دیرشتم حدیث: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دعا.......

نهه دیرشتم حدیث: کله چې یو انسا مړ شي............................

څلویښتم حدیث: هر یو انسان به د قیامت په ورځ.................

# پشتو

- دا کتاب د کوچنیانو او لویانو ټولو لپاره اړین او مناسب دی ځکه چې په دې کتاب کې یواځې یا خو د الله پاک د کتاب قرآن کریم ایت دی یا نبوي حدیث دی او یا د اهل علمو د کتابونو څخه راخستل شوي ګټوري لار ښونې ذکر شوې دي.

- په دې کتاب کې ما لنډ او کوتا حدیثونه راجمع کړي دي دا په دې خاطر چې په یادو یادول یې آسان او ګټه عامه شي.

- دا ټول نبوي حدیثونه مي د وضاحت څخه بعد ددې کتاب په پاې کې په مسلسل ډول ذکر کړي دي تر څو په یادو یادول او بیرته لوستل یې آسان شي.

- دا کتاب مي په اصل کې د بچو د تربیت په موخه لیکلی دی او زه سپارښتنه کوم چې په مدرسو، مساجدو، کورونو وغیره کې د همدې کتاب څخه سیالي مقرر کړی شي تر څو عام او خپور شي.

- أزه ټولو تربیت کونکي مور او پلار، ښونکي وغیره و ته بلنه ورکوم تر څو دا کتاب د خپلو بچو، شاګردانو سره ولولي تر څو د ماشومانو ژبه په نبوي حدیثونو باندي وچلیږي او ټول هغه ګټور اسلامي اخلاق او آداب زده کړي کوم چې په دې کتاب کې رانغښتلي دي.

- ما د خپل وس او توان سره سم د حدیثونو شرحه کړي او ځینې معناګاني او ګټې مي بیان کړي دي مګر ډیر څه داسي شتون لري چې زما څخه پاتي شوي دي نو مور، او پلار، ښونکي وغیره باید زیار اوباسي تر څو هغه ګټوري خبري پیدا کړي.

محمد بن سليمان المهنا

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com